# مولانا نجم الدین آخند زاده
# د «النجم» په هنداره کښې



د «النجم» مؤسس دکتور سعید افغانی



Ketabton.com

لیکنه اوټولوونه

امین الدین «سعیدی – سعید افغانی»

۱۳۹۶

www.masjed.se

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مولانا نجم الدين آخند زاده

## د « النجم » په هنداره کښې

**ليکنه اوټولونه:**

**امين الدين « سعيدي - سعيد افغاني »**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ځانګړتیاوې:

# مولانا نجم الدین آخند زاده

## د « النجم » په هنداره کښې

لیکنه اوټولونه : **امین الدین « سعیدي – سعید افغاني «**

تایپ او دیزاین: عزیز« سعیدی»

لومړی چاپ: ۱۳۸۷ هـ . ش ( آلمان )
دافغان استراتیژیکو څیړنو مرکز او دحق دلارې کلتوري ټولنې له خوا

دوهم چاپ: قاهره

خپرونکی: د مصر په عربي جمهوریت کې
د افغانستان د اسلامي جمهوریت سفارت، فرهنګي څانګه

نیټه: ( د وږي ۳۰) د 1396 لېږدیز لمریز کال
*د 1438 ق د ذوالحجة30 د ( 2017 د سپتمبر21)*

نشراتي لړی: یو سل او دیارلسم (113) کتاب

amb.afghanistan@yahoo.com
**saidafghani@hotmail.com**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیشگفتار

رساله‌ء *« مولانا نجم الدین آخند زاده د "النجم" په هنداره کښې »*، ده سال قبل توسط برادر گرامی الحاج دکتور امین الدین سعیدی فرزند رشید مؤسس و بنیانگذار هفته نامه‌ء «النجم » به مناسبت پنجاهمین سالگرد تأسیس آن هفته نامه، در یک فضای دور از میهن یعنی در جمهوری فدرال آلمان، از طرف "د افغان اســتراتیژیکو څیړنیز مرکز او دحق دلارې دکلتوري ټولنې" اقبال چاپ یافت و مورد استقبال گرم خوانندگانی که به مسایل فکری، ادبی وروزنامه‌نگاری علاقه دارند، قرار گرفت و دانشمندانی نظیر پروفیسور عبد الله بختانی خدمتگار و استاد حبیب الله رفیع نیز بر آن مقدمه نگاشتند.

اینک شصتمین سالگرد تأسیس آن هفته نامه فرا می‌رسد و آقای امین الدین سعیدي فرزند رشید مولانا دکتور سعید افغانی مناسب انگاشتند تا این رساله بار دیگر؛ اما در قاهره یا سرزمینی نشر شود که پدر دانشمندش نیم قرن قبل از همان " نجم المدارس" به قاهره آمد و سرانجام به مثابه‌ء نخستین افغان، حایز به اخذ درجه‌ء داکتری در فلسفه‌ء اسلامی، از دانشگاه مشهور جهان اسلام یعنی "ازهر شریف" گردید.

بخش فرهنگی سفارت افغانستان در قاهره افتخار دارد این رساله را که با نام یکتن از پیشگامان جهاد، مبارزه، دانش و عرفان سرزمین سرمدی ما افغانستان؛ یعنی مولانا نجم الدین آخند زاده پیوند دارد و همچنان یاد یکی از دانشمندان مشهور افغانستان دکتور سعید افغانی را نیز زنده می‌کند، به خوانندگان عزیز پیشکش می‌نماید، آرزومند است این رساله، مورد استفاده و استفاضه خوانندگان ارجمند قرار گیرد.

ومن الله التوفیق
فضل الرحمن فاضل
سفیر افغانستان در کشور عربی مصر - قاهره

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# مصلح او مجاهد ملا نجم الدین اخند زاده

لـیکـنـه او ټولـونه:
امـیـن الـدیـن « سـعـیـدي- سعیدافغاني »
دافغان اســتراتیژیکو څیړنو مرکز
اودحق دلارې کلتوري ټولنې مسؤل مدیر– جرمني

## سـریـزه

د حق دلارې کلتوري ټولنه اود افغانستان استراتیژیکو څیړنو مرکز، در فرهنګي هلو ځلو په لړ کې یو هم د هېوادمذهبي، تصوفي او ستر مجاهد شیخ ملا نجم الدین «آخند زاده صاحب» لنډ ژوند لیک دې چې د « مصلح او مجاهد ملانجم الدین اخند زاده » ترعنوان لاندې ګرانو ، درنو وطنوالو او د « هډې صاحب » مینه والو ته یې وړاندې کوم .

د النجم جریده، هغه قلمي جریده ده چې پنځوس کاله ( نیمه پیړۍ ) مخکې زما د مرحوم پلار مولانا دوکتور محمد سعید « سعید افغاني » له خوا چې د « نجم المدارس » مدرس او بیا مدیر وه ، تأسیس او خپره شوه او په دریمه ګڼه کې داسې ولیکل:

« مونږ غواړو چه د نجم الدین آخندزاده صاحب په حقله څه ولیکو. که چاته دده د ژوندانه د حالاتو او دده د غزاګانو او دده د مأذونانو او مخلصانو په متعلق موثوق معلومات وي، هیله کوو چه په دغه لیار کښې مونږ سره معاونت وکړي .» او روسته بیا د آخندزاده صاحب په هکله مفصل معلومات خپاره شول.

دا جریدې چې یواځنې اصل یې زمونږ په اختیار کې دی، او د را ټولولو، تهیه ، ترتیب او نشر کارونه یې زما په غاړه اچول شوي وه. ما په پوره دقت او امانت دارۍ دادی دا دنده بشپړه او تکمیله کړه، او په ډېرې مینې یې ستاسو مبارک حضور ته ډالۍ کوم.

د یادونې وړ ده چې په دې برخه کې؛ د وطن نامتو لیکوال او ملي شخصیت محترم پروفیسور عبد الله بختاني خدمتګار او همداسې د محترم استاد څیړندوی حبیب الله «رفیع » او محترم استاد فضل الرحمن « فاضل » د عالمانه لارښونو نه د زړه له کومې مننه کوم، او الله تعالی دې په خپل فضل او مرحمت؛ هغو ته اجر ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسې د يادونې وړګنم چې زه دا مجموعه د خپل مرحوم پلار مولانا دوکتور محمد سعيد « سعيد افغاني » چې د اسلام مبارک دين او د سولې، ښه تفاهم او دخير او سلم لپاره يې تر آخرنۍ سلګۍ پورې مجاهدت وکړ ، اهداء کوم او د حق تعالی نه ورته د دايمي سعادت هيله کوم.

امين يا رب العالمين
امين الدين « سعيدي ـ سعيد افغاني »
د حق دلارې د کلتوري مرکز ځخه
د دسمبر مياشت، د ۲۰۰۹ م – کال، جرمني – برول

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دپروفیسور عبد الله بختاني خدمتگار سریزه

گران وراره ښاغلي امین الدین « سعیدي »
د حق د لارې امین او په دنیا او آخرت کښې سعید و اوسې.
ډېر خوشحاله یم چه خپل فکر په کار آچوې، قلم چلوې، وخت په وخت خپرونې کوې، له وخت نه ګټه اوچتوې او فعال یې.
ستا زیاترې خپرونې لنډې ګنډې دي. حجم یې ورکوټی او معنا یې لویه وي. او خیرُالکلامِ ما قَل و دَلّ .
ستا د دغه ډول کارونو، درې سوغاتونه راورسـېدل، په مینه مننه!
د « النجم جریده » په دې کښې ډېر اهمیت لري، چه یو تاریخي فرهنګي خطي سند دې د چاپ له لیارې تاریخ ته سپارلی دی.
د مدرسې د خطي جریدې د اوو ګڼو محتویات دې هم عیناً او هم په ټایپي توګه چاپ کړي دي . لوی کار دی او ډېر ارزښت لري.
ماچه وکتل، پنځوس کاله ( نیمه پیړۍ) د مخه زمانه راته داعي شوه. ستا د اروانښاد پلار مولوي محمد سعید « سعید افغاني » نوراني څیره مې مخې ته و دربېدله . هغه د نجم المدارس مُدّرِس او سر مدرس وو. زه د « ننګرهار » د ادبي، ثقافتي میاشتـنۍ مجلې مسؤول مدیر وم.
کله به مو په هډه او کله به مو په جلال آباد کښې ناسته پاسته وه. د مدرسې او مطبوعاتو تر مېنځ مو روابط ټینګ کړي وو. متقابله همکاري، راشه درشه ، مشورې او مشاورې وې.
د « النجم » د جریدې تأسیس د همدې همفکریو یوه نتیجه وه، هغه خبرې را په زړه شوې چه ما ستا مرحوم پلار مـولوي صاحب ته وویل: د جریدې لپاره « النجم » مناسب نوم دی. دا به بیشکه د مدرسې د شاګردانو لپاره تربیتي او تشویقي پانه وي.
خو دې سره له تا څخه دا توقع هم په ځای ده چه ( د دین ستوری ) مولانا نجم الدین پکښې ښه وځلوې او دې کار ته د مدرسې استادان او شاګردان وهڅوې .
همداسې وشوو.
د جریدې دلومړۍ ګڼې په سر مقاله کښې لولو : « . . . د ننګرهارپه ورځپاڼه کښې د مدرسې د منسوبینو تبلیغي خدمت هغه دی چه لیدل کیږي . . . اوس د النجم اخبار، سره د ټولو مشکلاتو ، مېنځ ته راغله . . . »
په دریېمه ګڼه کښې بیا (( هیله )) څرګنده شوې ده: (( مونږ غواړو چه د نجم الدین آخندزاده صاحب په حقله څه ولیکو. که چاته دده د ژوندانه د حالاتو او دده د غزاګانو او دده د مأذونانو او مخلصانو په متعلق موثوق معلومات وي، هیله کوو چه په دغه لیار کښې مونږ سره معاونت وکړي .))
د څلورمې ګڼې سر مقاله، بیا د نجم المدارس او النجم د مدیر په قلم د (( مصلح او مجاهد )) تر عنوان لاندی داسې پیلیږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( دغه عنوان لاندې غواړم چه د ملا نجم الدین آخند زاده صاحب سوانح ، چه په خپل وخت کښې زیات مصلح او د انگلیسانو د استعمار په مقابل کې جنگیدلی دی، بیان کړم.))

دغسې بیا د النجم په نورو گڼو کښې، د مدرسې د استاذانو او شاگردانو په قلم ، د آخونزاده صاحب د ژوندانه په ځانله اړخونو رڼا اچول شوې ده. یعنی د څیړنې کار د هغې پر لیکوالو ویشل شوی دی. چه د تکرار مخنیوی وشي او ضروري ټکي پاته نه شي . د کار دا ویش او میتود زما او د مولوي صاحب په مشاوره شوی دی.

هغه ورځ هم را یاده شوه چه په ۱۳۳۹ هـ ش کال مولوي احمد گل صاحب د مدرسې مشرووو. د ذکر شوې لړی مضامین او د ننگرهار د یو شمیر نورو پوهانو لیکوالو مقالې. په نوموړي مدرسه کښې د یو څیړنیز کنفرانس په ترڅ کښې واورول شوې او یوه خوندوره مشاعره هم وشوه.

په دغه مهال زه د ننگرهار د ورځپاڼې مسئول مدیر وم. د کنفرانس د جوړېدو ، چلیدو، کامیابیدو، تنظیم او د مضامینو او اشعارو په ایډیټ او تنقیح کښې ، د مدرسې د اداري ملگری او مرستندوی وم. هغه ټول مطالب مې د ورځپاڼې له لیارې ، په دې هیله د تاریخ حافظې ته وسپارلې چه گوندې چې د کتاب په بڼه چاپ شي.

ډېر ښه وشو چه په جرمني کښې دافغانستان د کولتوري ودې ټولنې ، پروسږ کال زمونږ دا هیله تر سره کړه. او ډېر خوشحاله یم چه کتاب د لوستونکو ځانگړې توجه ځانته اړولې ده.

مثلاً :

ښاغلي فضل الرحمان فاضل هغه په دري ژبه ترجمه کړې او چاپ لاندې دی. کیدای شي چه په ځینو نورو ژبو هم ترجمه شي.

او داده اوس تا د ( حضرت نجم الدین آخونزاده مولوي ډاکټر سعید افغاني د النجم په جریده کښې ) رساله لیکلې او ترتیب کړې او تقریباً د هغه کتاب خلاصة الخلاصه دې چاپ کړې ده.

گرانه سعیدی!

ماته ستا درېیم ارزښتمن سوغات د ( زن و نبوت ) رساله ده. واقعاً علمي او ابتکاري څیړنه ده. هغې سره زما نظریه هم چاپ شوې ده. تاته د هغې رسالې د لیکلو او چاپولو مبارکي هم وایم.

د الله پاک له درباره درته د نورو زیاتو علمي څېړنو او خپرونو بریالیتوب غواړم. والسلام.

ستاسو خدمتگار

کابل _ خیر خانه مېنه _ درېیمه برخه

د ۱۳۸۷ د زمري اوله د ۲۰۰۸ د اگست ۱۲ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د محترم استاد فضل الرحمن « فاضل » سریزه :

« النجم » ستاره ای در آسمان مطبوعات کشور

«**النجم** » هفته نامه دیواری ای بود که نیم قرن قبل به یمن همت یکتن از دانشمندان کشور تأسیس گردید ونخستین شمارهٔ آن در برج میزان سال 1337 خورشیدی ، دیوار های مدرسهٔ نجم المدارس را در شرق کشور، آذین بست.

مؤسس وسردبیر این هفته نامه دکتور محمد سعید « سعید افغانی» بود که در آن زمان، مدرسهٔ نجم المدارس را رهبری می کرد وآقای حضرت خان شاگرد صنف دوازداهم آن مدرسه، معاونیت هفته نام «النجم » را بر عهده داشت.

عنوان هفته نامه به خاطر یاد آوری از مجاهدات و مبارزات غازی نامدار ومجاهد پرهیزگار مولا نا نجم الدین آخندزاده صاحب و فعالیت های منسوبان مدرسه نجم المدارس اخذ شده است.

دوست عزیز من آقای امین الدین « سعیدی » فرزند رشید دکتور محمد سعید سعید افغانی که از سه دهه بدینسو ، فعالیت فر هنگی دارد ، به همت او هشت شماره این هفته نامه مجدداً به زیور طبع آراسته می‌گردد.

« النجم » شاید با درنظرداشت تاریخ نیم قرن قبل، در مقایسه با مطبوعات امروزی، دارای کاستی‌هایی باشد، مثلا شاید صفحه آرایی مناسبی نداشته باشد، اما با یقین کامل در آن دوران، گام استواری بوده است که باید بر داشته می شد، واین گام مهم را شادروان دکتور محمد سعید سعید افغانی بر داشته است.

« النجم » در نخستین شماره اش هدف نشراتی خود را ، بیان گزارشهای اجتماعی ، دینی و تر بیتی خوانده است و زمانی که با ژرف نگری صفحات آن ورق زده شود ، خواننده در می‌یابد که سر دبیر دانشمند آن شادروان دکتور سعید افغانی، بر نامه های سودمندی برای آینده داشته وحتی می خواسته است با دریافت امکانات بیشتر «النجم » را به صورت معیاری وچاپی در خدمت عامه مردم قرار دهد.

یکی از اهداف غیر مکتوب سر د بیر « النجم » پرورش نسل جدید در میان دانش آموزان مدرسه نجم المدارس است، تا ایشان را با جهان قلم و مطبوعات بیشتر آشنا سازد.

مضامینی که در آن دوران به قلم شاگردان صنوف هشتم، نهم، دهم، یازدهم، ودوازدهم نگارش یافته است، خواننده را به آینده امیدوار می‌سازد و نیم قرن بعد وقتی از کار نامه های بعدی شاگردان آن دوران اطلاع حاصل می‌کنیم، موثریت و نقش « النجم » را در آگاهی بخشی بهتر درک می نمائیم.

مثلاً صمیم کاکړ شاگرد صنف نهم در سال 1337 خورشیدی بعد ها به حیث یکتن از پیشگامان مبارزه اسلامی می در خشد و در راه دفاع از ارزش

(c) ketabton.com: The Digital Library

های ملی ودینی جام شهادت می نوشد. یا مولوی سلطان عزیز شاگرد صنف هشتم آن دوران که مضامینی به قلم او در «النجم » به چاپ رسیده است، بعدها خدمات فراموش نا شدنی در عرصه تعلیم و تربیه به و یژه در میان مهاجران در پشاور انجام می دهد کـــه بلا ریب هسته این فعالیت ها در روش آموزش و پرورش آن سال ها در دل او نقش بسته است.

در « النجم» اعلاناتی هم به چشم می خورد که به سهم خود برای آگاهی بخشی دیگران نهایت ارزنده است. به گونه مثال در النجم آمده است که :

النجم به پرسشهای شرعی پاسخ می گوید :

ویا اینکه :

مضامین ارسالی کوتاه، مفید ومتین باشد.

یکی از پرسشهای طرح شده در هفته نامه « النجم » این سؤال نهات سودمند است که : « مدرسه چگونه پیشرفت کند؟ »

در هر شمارهء «النجم» ، چند پاسخ به پرسش بالا درج شده است که در آن دوران برای خوانند گان رهگشا بوده است.

یکی از اعلانات مهم در هفته نامه « النجم » تقاضا از خوانندگان است تا معلوماتی که راجع به جنبه های گونان گون زنده گی ومبارزات مجاهد سُترگ، ملا نجم الدین آخند زاده دارند، جهت نشر به اداره «النجم » بفرستند.

اینجانب که حالا این سطور را می نوشتم به یاد جریدهء دیواری می افتم که ما متعلمان صنف هشتم مدرسهء امام ابو حنیفه (رح) در کابل، در سال 1352 هجری خورشیدی به نام « لغة القرآن » اولین و آخرین شماره آن را به دیوار آویختم که مضامین آن توسط چند تن از شاگردان صنف هشتم تهیه می‌گردید و به خامهء زیبای امین الرحمن خلیل همصنف دیگر ما خطاطی می شد، و استاد زبان عربی ما استاد ابراهیم الشدی تبعه عربستان سعودی، از نگاه ادبی، مضامین آن را اصلاح می کرد . شاید آن جریده که بدون مشوره آمر مدرسه بر دیوار آویخته شده بود، باعث شد بعد از شماره اول دیگر به چا پ نرسد.

به هر ترتیب با این مقدمه میان خوانند گان و متن کامل هفته نامه « النجم » بیشتر حایل نمی‌گردم و با قدر دانی از زحمات برادر گرامی ام آقای امین الدین « سعیدی » وطلب مغفرت وآمرزش برای دکتور سعید افغانی، مؤسس و سر دبیر « النجم » موفقیت های بیشتری را برای برادر گرامی آقای امین الدین « سعیدی » آرزومندم.

فضل الرحمن « فاضل »

12 اسد 1387 خورشیدی – کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د استاد حبيب الله « رفيع » سريزه

## د « النجم » دورکې جريدې څوګنې

«خپرونې » درڼا په لور ګامونه دي، دروڼتيا په لور ګامونه دي او د پرمختيا په لور ګامونه دي چې دچاپ اختراع دا رڼا د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسوله.
افغانستان ته هم چاپ او مطبعه او ورسره خپرونې او مطبوعات څه کم يوه نيمه پيړۍ وړاندې را غلل او د ( شمس النهار ) لمر دهيواد دخپرونو په تياره اسمان کې ځيره و وهله او همدا لمر به کله ولويد او لکه به بيرته راوخوت.
په ١٣٩٨ لمريز کال ( ١٩١٩ ع ) په هيواد کې دخپلواکۍ دلمر له راختلو سره د افغانستان دخپرونو اسمان تر پخوا ډير رنګين او د راز، راز خپرونو په رڼاؤ زرين شو .
ښوونځي او مدرسې په خپله د رڼا مر کزونه دي، په دې وخت کې له دې مرکزونو سره دخپرونو رڼا هم ملګرې شوه او دا لړی نور علی نور شوه او د هيواد له لومړنی مدرسې حبيبې څخه د «معرف معارف » مياشتنۍ جيبي مجله را ووته چې دليسې مدير محمد حسين دلېسې دزده کوونکو په وسيله چلوله او دحبيبيې د زده کوونکو مقالې په پکې خپريدې، دمستوراتو ښوونځي هم چې په هيواد کې دنجونو لمړنی ښوونځی ؤ د « ارشاد النسوان » په نامه جريده را وايسته او بيا د آئينهٔ عرفان مجله خپره شوه او د اماني دروې له پای سره د « مکتب جريده » نشر شوه.
تر اغتشاش وروسته دا کار غړند شو او تر ډيره وخته معارف ډيرې لږ خپرونې درلودې او تر « آئينه عرفان » او « عــرفـان »پرته پوهنې نورې خپرونې نه درلــودې ، د اروانښاد شهيد محمد داوؤد خان د صدارت او د اروانښاد علي محمد پوپل دپو هنې دوزارت په وخت کې دپو هنې دخپرونو يوه نوې او ګټوره لړۍ را پيل شوه ، په دې لړۍ کې د « اخبار عرفانی » جريده، د « آزادی » کالنۍ خپرونه د « ادب » څيړنيزه مجله ، « افغان طبي مجله » ، د « اقتصادي څيړنې » مجله ، د « بخوان وبدان » مجله ، د « بدني روزنه » مجله، د « پالندوی » مجله ، د «پولتخنيک » مجله، «پو هنه » مجله، د « جريده تعليم وتربيه »، د« تعليم او تربيې » مجله ، د« ځاروندی» مجله، « دحقوق » مجله، د «خدمت» مجله، « جريده دارالمعلمين»، د « ښوونکې » مجله ، د«علم او فن » مجله، د « کابل پوهنتون خبرونه » خپرونه، د « نجونو روزل » مجله، « ورمه » مجله اونورې خپرې شوې .

همدا راز داوخت ځينې ښوونځيو هم چاپي او قلمي خپرونې پيل کړې چې شميره يې لسهاؤ ته رسيده ، دنجات ښوونځي د « نجات » جريده خپره کړه او نورنوټولو لېسود يوالي جريدې درلودې او دپو هنې وزارت کتابتون دکوچينانو ږغ مجله خپره کړه.
همداوخت چې دپوهنې وزارت په مرکز او مربوطاتو او ښوونځيو او پو هنځيو کې مجلې او خپرونی راوتلې، له کابل نه ډير لرې د ننګرهار نجم المدارس په ديني مدرسه کې ددې مدرسې منور او پوه مدير اروانښاد ډاکتر سعيد افغاني د « النجم » په نامه د جريدې يو روڼ ستوری چی هره چارشنبه به يې له دي مدرسې نه سترګک واهه د ١٣٣٧ ليږديز کال دتلې په ٣٠ نيټه خپلې خپرونی پيل کړې او پکې ويې ليکل:
( دا اخبار دمدرسې جريانات ښيي او اجتماعي، ديني ، تربيوي خپرونې کوي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له همدې هدف سره سم یې په ساده روانه پښتو ټولنیز، فلسفي ، ادبي او علمي مسایل او مطالب خپرول او ددې مدرسې د زده کوونکو د ذهني تنویر او د سیاسي او اجتماعي شعور د ویښولو له پاره ئې کار کاوه .

بل مهم ټکی دادی چې موږ هغه وخت ډیرې نورې دیني مدرسې هم درلودې لکه په کابل کې عربي دارالعلوم، تخارستان ، فخر المدارس، نور المدارس، خو هغه مدرسې تر ډیره حده وچې دیني مدرسې وې او دنورو علومو تدریس ته لږ بر خه پکې ورکول کیدله، خو د اروانباد ډاکتر سعید افغاني د « النجم » محتویات ښیې چې ده نجم المدارس ته یو ذهني او فکري وسعت ورکړ اوددیني علومو تر څنګ یې ، فلسفې ، حکمت او نورو عقلي او نقلي علومو دزده کړې په لاره کې هم پراخ نظر درلود او دالنجم جریده یې پر راز راز موضوعاتو او مضامینو سپوللی وه .

ښاغلي امین الدین «سعیدی » ( د ډاکتر «سعید افغانی » خلف الصدق ) لوی کار کړی چې ددې قلمي جریدې اته ګڼې یې موندلې او اوس یې تا سو ته د النجم دتاریخي کلکیسون په توګه وړاندې کوي ، دوی وایي چې د دې جریدې نورې ګڼې هم لیکل شوې او په قلم تکثیر شوې دي. کاشکي هغه وموندلې شي او که ونه موندلې شي هم لوی کار دا شوی چې دوی ددی ورکي قلمي او علمي جریدې څو ګڼې او نمونې بیا موندې او دافغاني خپرونو ډګر ته یې رابر سیره کړې، زه مبارکي ورکوم او د ژوند په ټولو ډګرونو کې ئې بریا غواړم !

په درنښت
حبیب الله «رفیع »
دافغانستان دعلومو اکاډمی مشاور
۱۳۸۷ /۵ /۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مصلح او مجاهد
# ملانجم الدين آخند زاده

مولوي داکتر محمد سعيد « سعيد افغاني » چه دهيواد دينى او ملى شخصيتونو له ژوندانه سره مينه او خاصه علاقه لرله ، دنجم الدين آخوندزاده صاحب دخيړنو تاداو په کال ( ۱۳۳۷ ليږديز) دنجم المدارس په مدرسه کښى کيښود:

کله چې مولوي سعيد افغاني په کال ( ۱۳۳۷ لېږديز) دهغه مدرسې مدير او سر مدرس و نو هلته ئې دمدرسې دشاګردانو ددينې ، اجتماعي تربيتي د لوړ تيا لپاره اوه نيزه قلمي جريده په دوو مخونو کښې دلمړې ځل لپاره په نشراتو پيل وکړ.

ددې جريدې لومړى ګڼه د ۱۳۳۷ هجري شمسي کال دميزان په ۳۰ مه نيټه ( د النجم ) په نامه خپره شوه چې د آخوندزاده صاحب له نامه سره ارتباط لرى.

مولوي داکتر سعيد افغاني د النجم په څلورمه ګڼه کښې چې په کال ( ۱۳۳۷ هجري شمسي) دعقرب دمياشتې په (۲۱ ) نيټه خپره شوه ، داسي وليکل:

**النجم ګڼه « ۴ » چهارشنه د ۱۳۳۷ کال ، د عقرب « ۷»**

## مصلح « مجاهد »

د سعيد افغاني ليکنه :

د دغه عنوان لاندې غواړم چې د ملا نجم الدين اخندزاده صاحب، سوانح چه په خپل وخت کښې زيات مصلح او دانګليسانو په مقابل کښې په کلو کلو جنګيدلې، بيان کړم .

ـ۱ د ده اجمالي پـيژندنه:

ملا نجم الدين « اخند زاده صاحب » «۱» د امير عبدالرحمن د پاچائى په وخت کښې د لـوى اعتبار خاوند ؤ . دغه شاه دې سره دمأذونانو دکابل په ښار کې بندي کړو.

دى د بندي خانې نه په يو خاص تر تيب مخ په مشرقى وتيښتيده او هلته د مشرقي په سرحداتو کښې د مهمندو په سيمه په ژروبى او چمرکند کښې اوسيده او د انګليسانو په مقابل کښې به جنګيده.

دي بيا دامير حبيب الله خان د پا چائى په وخت کښې دهغه په غوښتنه او اعتماد بيرته افغانستان ته راغې او دننګر هار په ولايت کښې دجلال کوټ نه مخ په جنوب دهډې په قريه کښې اوسيده.

ده د همدغه پا چا په عصر کښې ډير د اسلام ددين اساسونه محکم کړل او هر خواته يې ريښې او پلى خورې شوې او دى د داسې لوى شخصيت خاوند شو ، چه په ټول افغانستان کښې ده د خلکو په عقيده حاکميت درلوده. دغه منلى شخصيت د همدغه امير حبيب الله په وخت کښې « ۱۳۲۰ يا ۱۳۲۱ هجري قمرى » کال ؤ چه د اجل داعې ته ئى لبيک وويلې.

په دى حساب دده د وفات تأريخ ( قبر غازى ) « ۱۳۲۰ » ليږديز لمريز کال دى .

د ده مزار او مقبره دهډې په قريه کښې د والا حضرت سر دار محمد داؤد خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان صدراعظم په اهتمام ښه جوړه شوی. د ده هدیره د ټول مشرقي او سرحد بلکه د ټول افغانستان او پشتونستان د خلکو د عقیدې ځای دی «۲»

النجم ګڼه « ۵ » چهارشنه د ۱۳۳۷ کال ، د عقرب « ۲۸ »

# مصلح « مجاهد »

## د سعید افغاني لیکنه:

*۲ـ د ده تفصیلی پیژندنه :*

دنجم الدین اخند زاده صاحب « رحمة الله علیه » د مفصل پیژندلو د پاره په کار ده چه په لانده ډول سره ئې وپیژنو :

۱ ـ د ده عمر او حیات او قواره
۲ـ د ده هویت قوم او نسب
۳ـ د ده اصلی او فرعي مسکن
۴ـ د ده تحصیل او علم
۵ ـ د ده تصوف
۶ ـ د ده جهاد
۷ ـ د ده دشهرت اندازه او کار روائې تر مرګه پورې
۸ ـ د ده مشهور مأذونان او منسوبین
۹ ـ دده د مرګ نه وروسته شهرت او تأثیرات

مګر ډیر تأسف دی چه د داسې یو لوی شخصیت چه د ټول حیات ګذارشات او حر کات ئې نهایت متانت او سنجیدګي لري. هغومره چه ویل کیږي او یا اوردیل کیږي او یا ئې وینو په دغه اندازه د ده سوانح دلیکلو دپاره چا کوښښ نه دی کړی. په دغه حقله زمونږ ګیله دده دمعقولو منسوبینو نه کوم چه په خپل وخت کښې نهایت منلي تیر شوي، زیاته ده. یوازې د ملا طوطی آخند نه هغه هم صرف دده د مواعیظو تذکرې، مګر نهایت ناقص لیدل کیږي او بس.

په هر صورت که اوس زمونږ په لاس کښې مطلوبه معلومات راشي امید دی چه څه نا څه خو به ترې جوړ شي او آینده د پاره به ګونډې دغـه آرزو د ده پـوه عقیدت مندان کوښښ وکړي چه زمونږ د هدف نارسیده مطلب تکمیل او پوره کړي. باور لرم چه په دغه لیار کښې سعیه به د ده د عقیدت مندی ښه ثبوت وي .

## د ده عمر او حیات او قواره :

زمونږ په لاس تحریري اسناد ډیر کم دي. کوم تحریري سند چه زمونږ په لاس کښې شته هغه یوازی د ده د فوت تأریخ ښيې چه په (۱۳۲۰) او یا (۱۳۱۹) هجری قمری کال کښې فوت شوی، چه د ده نه د ټول عمر اندازه نشي معلو میدلې. مګر ؛ شفاهاً مو ډیر او ریدلي چه آخندزاده صاحب عمر او یا کلو په حدود کښې اندازه کیدلې شي. خلک وائي : چه ښه قوي وجود ئې درلوده مګر ؛ ریاضیت او تقوی په وجه نحیف شوی ، حتی چه د ډیر ریاضیت په وجه د ده د لاسو رګونه شنه شنه بلقیدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

وائي چه دی ښه خوش قـواره جږ سړی ؤ ، او په اوچلي باندې شين خال هـم درلوده او د ده دښين ښکلی خال شهرت زيات ؤ .
د ده رنګ او قواره با تاثيره هيبت ناکه وه ، دورايه به په خلکو د ده رعب وليده مګر؛ په عين وخت کښې مشفق او مهربان هم ؤ .
د د حيات ټول په حرکت کښې تير شوی . معلو ميږی چه د ده په ضمير کښی يو داسی اور او تپش او حرکت موجود ؤ چه په يو ځای نشو پاتې کيدلی .
ده هر چيرته ته دخلکو په افکارو کښې داسی تحول قايم کړ ی چه تر ننه هم هغه تحول دخلکو په مابين کښې ياد او د قدر وړ دی ده په ځان باندی ډير خلک د ښو اخلاقو په وجه عاشقان کړي ؤ. د ده د حقانيت د اثبات دپاره دا کافی ده چه دی ټولو پوهو علماؤ منلی ؤ او د ده حر کات ئې د اسلام د دين په اساس موافق ګڼل .

**النجم ګڼه « ۶» چهارشنه د ۱۳۳۷ کال ، د قوس « ۵»**

# مصلح « مجاهد »

## د سعيد افغاني ليکنه :

### ۳ـ د ده هـويت قـوم او نسب:

### اصلي او فرعي مسکن او ځايونه ئې :

ملا نجم الدين « اخند زاده صاحب » په قوم کاکړ او په مليت افغان دی. په اصل د جنوبی شپلګر د علاقې نه دی، او هم هغلته د ده نيکونه او پلرونه تير شوي «۳» .
دی بيا دتحصيل او زده کړې په وخت کښې د جنوبي نه مخ په مشرقي ننګرهار را روان شوای. په ننګر هار کښې ځای په ځای ديره شوی او تحصيل ئې کړای دی.
د تحصيل دپاره آفريدوته هم تللی. پيښور او صوات کښې هم اوسيدلی دی.
ده د تحصيل نه ورسته مخ په خپل وطن افغانستان روان شوې او په هډه کښې اقامت اختيار کړی ؤ .
لکه مخکښې چه مو وويلې د ځينې سياسي معاذيرو په وجه کابل ته غوښتل شوی ؤ دکابل په ښار تندور سازی کښې او سيدلی او بيا دکابل نه مخ په ننګر هار تلی او مهمندو په علاقه په جرووبی ، او چمرکنډ کښې استوګنه کړي ده .
په ننګرهار کښې په روداتو کښې ځه موده تيره کړې او هلته په فقير آباد او نورو روداتو او شينوار کښې ګر ځيدلی . په لغمان او سور رود او کامه او خو ګيانو کښې هم د وعظ او تبليغ او يا دنورو مقاصدو په مطلب تلی دی ، دګرمي په وخت کښې دی به کابل ته هـم تلو او هلته په پغمان کښې ځه موده ئې استو ګنه کړی ده.
دی په شمالی کښې د کوه دامان خواته د داؤدځو په علاقه کښې اوسيدلی او شايد چه هلته به د کـوه دامـان په ځينو ځايو کښې ګرځيدلی وي، مګر ؛ د ده د حيات آخرنی شپې او ورځې د ننګرهار په علاقه د جلال کوټ نه دري ميله

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ په جنوب هــډه کښې تير شوي دي. دی شايد په نورو ځايونو کښې هم ګر ځيدلې او يا اوسيدلی وي مګر ؛ مونږ نه دی اوريدلي، نو ځکه دليکو جر ئت نه کؤو .

## د ده تحصيل او علم :

مخکښې مو وويل چه دی د تحصيل دپاره زيات ګرځيدلې او په ډيرو ځايونو کښې او سيدلی دی .

وائی چه اخند زاده صاحب ډير پوه او ښه معقول عالم ؤ په تفسير ، او حديث ، قرائت ، صرف، او نحو ، او فقه ، او اصول ، او معانی ، منطق ، او هيئت او رياضی ، او حکمت ، او ميراۍ ، او حساب او تصوف ... .

**النجم ګڼه « ۷ » چهارشنه د ۱۳۳۷ کال ، د قوس « ۱۲ »**

## مصلح « مجاهد »

د سعيد افغاني ليکنه :

### ۴ـ دده دعلم او تحصيل :

په علومو کښې ئی ښه قوي لاس درلوده ، رښتيا دده هغه کتاب خانې نه چه اوس د نجم المدارس په لاس کښی ده ، معلو ميږی چه دی ښه عميق عالم او د مطالعی شائق ؤ .

وائی چه اخند زاده صاحب به د علما سره ډير علمي بحثونه کول ده به هميش دعلم دپاره دعمل اندازه کتله ، د ده استاذان هم خلک ښه يادوی .

د ده د استاذانو په سلسله کښی د سر شاهی نه چه سرې مخ په بړو ځی يو هديره ده دهغی ځای خلک يو قبر ښئ وائی چه دا داخندزاده صاحب استاذ تير شوی او ډير ښه مبارک شخص ئی خلک يادوی .

وائې ملا نجم الدين اخندزاده صاحب د ده زيارت ته را تلو دده استاذان په ننګرهار او سر حداتو او صوات او پيښور او شايد نورو ځايونو کښې هم تير شوی وي.

کوم وخت چه دده دعلم قال نه مخ په علم حال تو جه برابر وی داوخت دده يو بله دوره شروع کيږی.

دا په تواتر ثابته ده چه آخندزاده صاحب دصوات صاحب نه په حيات کښې د قادری شريفی طريقه وکړه او په دغه طريقه کښې ترنه درسونه کامل کړو ، او مأذونی مرتبې ته ورسيده.

ده په صوات کښې ډير وظايف کړي او د صوات صاحب په نزد نهايت منلی ؤ . که څه هم زمونږ سره د ده او صوات صاحب په هغه وخت کښې د کرامت زياتې قيصی نشته مګر؛ مونږ دومره پوهيږو چه دواړه جنابان با تقوی او پرهيز ګاران تير شوی ، عقيده لرو چه اوراد او وظايفي ئې ډير پوره تأثيرات شته دي مګر ؛ زه نه غواړم چه دقيصو رطب اويالس ياد کړو .

وائي ملا نجم الدين اخند زاده صاحب په څلور واړو طريقو کښې مأذون و « ۴» . مګر ؛ ده به خلکو ته يوازی د قادری طريقی اجازه ورکوله « ۵» .

**النجم ګڼه « ۸» چهارشنبه د ۱۳۳۷ کال ، د قوس « ۱۹ »**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مصلح « مجاهد »

د سعید افغاني لیکنه:

***۵_ د ده تحصیل او علم او تصوف:***

هـڅې صاحب عـالم ؤ ، مګر ؛ داسې نه چه علم ئې دعمل سره نه برابر یده او یا دسړ تنبه توب نه به ئی کا راخستلو او یا د کبر او غرور نه ډ ک عالم او یا داچه د ده علم د اوهامو او خرافاتو یوه مجموعه ؤ او یا خدای ناکرده چه ده به دین ددنیا دپاره وسیله ګرځولی وي .

دی یو حقاني عالم ؤ، ده داسلام دین پیژندلو. دی په دې خبره پو هیده چه خلکو کښې باید د محبت او مؤدت اساس قایم شي. دی ریا کار صوفی نه ؤ، او نه دکونج او صومعې طرفدار ؤ . دی یو اجتماعي شخصیت، همیش دناوړو رسم او رواج سره مجادلې کړي، خلک ئې دبې کارۍ او تنبلۍ نه خلاصول .

# مصلح او مجاهد

## د سعید افغاني لیکنه:

وائي نجم الدین آخندزاده صاحب به علماؤ سر زیات محبت کولو او ښه عالم به ئې زیات خوښو او نازوو.

دهغه وخت علماؤ په ده باندې دعلمیت آزمیښتونه کړي ؤ علماؤ ، دده نه په لویو لویو کتاب، او علومو او په باریکه باریکه مسایلو کښې پوښتنې کولې، مګر؛ دده سره دعلمیت اندازه قوي وه.

دعلماؤ پو ښتنو د پاره ئې ښه ځوابونه ورکړي دي. د علماؤ په نزد ښه جید عالم ثبوت شوی ؤ نو ځکه ئې دی د دین داقتدا او ددین دحمائې دپاره دهغه عصر لوی نابغه شخصیت لیدلو. ده علماء تربیه کول او علماؤ ته ئې د عمل درس ورکولو .

وائي نجم الدین آخندزاده صاحب ته هر کال په سلهاؤ بړستنی جوړولې او بخشش په ډول به ئې ورکولې. دی دعلماؤ دپاره خولی او پګړی پیداکولې او د بخشش په قسم به ئې ورکولې.

دنجم الدین آخندزاده صاحب علمي بحثونه علمي موعظې او خطابې ښې با تاثیره یادیږي. ده خلکو ته د کونج او زاویې درس نه دی ورکړی. ده خلکو ته دنیا په دا شان بده نه ده ظاهره کړې، چه خلک دې دنیا ترک او کار دې نه کوي .

دی په دې خبره پو هیده چه ددنیا مذمت هم ددې د پاره دی چه باید مسلمان د دنیا د محبت اندازه وپیژني، داسې نه چه د دنیا د محبت په وجه دخلکو حقوق تلف د رحم او عاطفی خیال ونه ساتي.

داسې دنیا نه چه هرج مرج پیدا شي، د جنګ او قتل موجب وګرځي او داسې نه چه خلک په دنیا غَرّه شي، خپل خالق هیر کړي او دبلې ورځې غمه ورسره نه وي . اوکه نه دنیا د دې دپاره چه د ځان او دخلکو دخدمت او رفاهیت په مقصد وي بده نه، بلکه پید ا کول ئی ثواپ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجم الدین اخند زاده صاحب حقیقی عالم، په دې خبره ښه پوهیده چه ځنګه علماء دې په دې پوه ؤ چه د خلکو داصلاح دپاره څنګه علم په کار دی.

ده سره دا ملاحظه وه چه د وخت او زمان مراعات شته دی. ده علماء په ځان را ټول کړل او خلکو کښې نوی روح پو کړو.

مګر ؛ ډیر تأسف دی چه د ده د کار نقشه د ده نه پاتې وروستینو خلکو بدله کړه. په دې پوه نه شول چې اصلی سر څه وي، په دی ښه پوه نشول چه د نجم الدین اخند زاده صاحب مطلب څه ؤ . چا داخیال وکړو چه د آخند زاده صاحب سره د تسپو دشمار خیال ؤ .

څوک په دی عقیده لاړل چه ډوډۍ ورکول او لنګر مقصود دی، چا دا ګمان وکړو چه په سر مراقبه سپین څادر او قبا په کار ده، چا سره دا سودا پیدا شوه چه چا د ساده خلکو په وسیله نور خلک تهدید ول او غولول په کار دي.

همداوجه وه چه چا دلنګر په نامه او چا د مسجد د جوړولو په هنګامی او چا د مدرسې جوړولو په انګازی، چا په دې نامه چه دا کوم!! او داسې داسې خیال مې دی ناروا ، ناروا کارونه وکړل. عامونه ، عامونه مسلمانان ئی په حقیقي اسلام باندی هم بد ګمان کړل.

خدای خبر چه داسې جنابان د اوسنی اسلام د ضعف له امله په هغه ورځ د پاک خدای په لوی دربار کښې څه ځواب ورکوي؟

باید ووایم چې: نجم الدین آخونزاده صاحب په مخلصانو کښې ښه پاک او پوه خلک هم وه. د هغوی د خدمتونو اندازه مونږ سر شته. امید دی چه د هغوی د کارنامو تذکری باندې آینده تماس و نیسم او خپلو ګرانو لو ستو نکو دپاره ئې دهدئې په ډول وړاندې کړم .

---

( ۱ ) سر محقق عبدالله بختانی خدمتګار دنجم الدین اخندزاده صاحب دنوم په هکله لیکي:

« ما د سر محقق مولوۍ محمد اکبر معتمد شینواری څخه څو څو ځلی اوریدلی دي چه هغه به ماته ویل: چې ما د شینوار و صوفي صاحب نه اوریدلی دي چې: دهډی آخونزاده صاحب اصلي نوم ( عبد القدیر ) دی، مګر د علم ، رو حانیت او غزاګانو په برکت و نورو لخوا ورته (نجم الدین ) لقب ورکړ شوی دی چه معناي (د دین ستوری ) کیږی. سعید افغاني

پرې اضافه کول غواړم چې هغه څوک چې درې نسله ملا وي نو هغه ته آخوندزاده وایي. آ. سعیدی

دشینوارو صوفی صاحب اصلي نوم صوفي علم ګل دی. دآخوندزاده صاحب مأذون او هغه ته نژدې سړی و په ډیرو غزاګانو کښې یې دجناب هډۍ صاحپ سره برخه اخستی ده.»

( دهډې آخوندزاده مولنا نجم الدین ) لیکنه: سر محقق عپد الله بختانی خدمتګار. دغه کتاب په ۱۳۸۷ ( دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه )

( ۲ ) دننګر هار د سره رود د ولسوالی دچهارباغ حضرت محمد سعید سعیدی مجددي علیه الرحمه دحضرت صاحب عطاء معصوم مجددي زوی دی. په کال ۱۳۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

هجري شمسي کښې په چهارباغ صفا کښې زیږیدلی او دسنبلی په شپږمه کال ۱۳۷۲ هجري شمسي د لوی اختر دمیاشتې په ۱۹ مه دخوږ یاڼیو په اګام کښې حق ته رسیدلی. هغه مرحوم چې دمولانا نجم الدین آخوندزاده یو نژدې ملګری، دوست، مرید او خلیفه یا مأذون وو د نجم الدین د آخونزاده صاحب د وفات نیټه په خپله هغه مرثیه کښې چې ( در مرثیه غوث زمان قطب دوران قدوهٔ سالکان پیشوای پیر وجوان کاملم مرشد محبوب دلم اعنی صاحب هډه رحمة الله علیه) په نامه یادیږي، دنجم الدین آخند زاده صاحب د وفات نیټه: ( دچهار شنبې شبه د ۱۳۲۰ هجري قمري کال د روژی دمیاشتې ۲۱ مه معرفي کړې ده. )

**مرحوم حضرت صاحب محمد سعید د په خپلې مرثیه کښې پدې هکله لیکي:**

چـــونکه سردار بشر رفت ازاین دار فنا
صبر از رفتن خـــوبان جهان مـــی بینم
صبر تلخ است ولیکن ثمرش شیرین است
مژدهء نیک به صابر زسبحان مـــی بینم
ګر ازاین دار فنا جـــان به سلامت ببرم
سابقون را همه ای غمـــزدګان می بینم
شب چهارشنبه شنو تو ز وفـات صاحب
بیست ویکم ز مه و شهر رمضان می بینم
سنهٔ الف وهم سه صد وعشرین بـه یقین
بیست ویکم ز مه و شهر رمضان می بینم
چـونکه خوبان هم رفتند سعیدی ز جهان
شو مجرد کـــه ترا نیز روان مې بینم

در مرثیه ای که در فوق تقدیم ګردیده، با قید ( یقین ) مصرع تاریخ ( سنهٔ الف و هم سه صد و عشرین ( ۱۳۲۰ به یقین ) معرفي شده است.
( مأخذ: دمحترم سر محقق عبد الله خدمتګار دهډی اخوندزاده مولانا نجم الدین له کتاب نه صفحه ۱۳۱ او ۱۳۲ ) دچاپ کال ۱۳۸٦ (۲۰۰۷ م ) ټولنه لخوا - جرمنی ) په پیښاور کښې چاپ شوې.)

## (۳) محترم سلطان عزیز دمرحوم آخوند زاده صحا ب د نوم په هکله داسې لیکي :

دمرحوم آخوندزاده صاحب نوم ( نجم الدین ) او اصلي مسکن ئې د افغانسان شلګر دی. ولې دوی په ننګرهار او صوات او دپښتونستان په نورو ځینو کښې په ( کابل ) ملا شهرت درلود او دوی په خټه کاکړ او په کاکړو کښې ( ابک زائی ) او په ابک زایو کښې ( اخونزاده خیل ) حسابیږي دغه کورنی او س هم په شلګر کښې په اخونزاده خیلو سره خورا مشهوره ده دهمدې کبله دوی ته داخونزاده لقب هم ور په برخه شوی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ ته دمرحوم اخونزاده صاحب نژدې خپلوان پوره معلوم ندي مګر دومره خبر یو چه ، د دوی مبارک والد محمد حسن آخونزاده نومیده خو افواهی مو اوریدلی دي چه دوی نژدې خپلوان ډیر نه در لودل.

( مأخذ: دننګر هار ورځپاڼه: ٤٩ مه ګڼه د١٣٣٩ دثور ٣١ نیټه)

( ٤ ) جناب نجم الدین آخوندزاده صاحب د قادرید طریقې شیخ او د تصوف په څلورو مشهورو طریقو ( قادریه ، نقشبندیه ، چشتیه ، سهروردیه ) کې مرشد او پیر و. او په سلګونه مأذونان ئې درلودل.

آخوند زاده صاحب دقادریی دطریقې نه علاوه په دغه نورو طریقو کې هم اذن ورکاوه.

## (٥) ـ دهغې صاحب مشهور مأذونان :

یادونه:

مأذونان یا خلیفه هغه چاته وایي چه پیر ورته دمرید نیولو اجازه ورکړې وي.

دآخوند زاده صاحب ځینی مأذونان هم دې درجې ته رسیدلي ؤ چې هغوی هم ځانته مأذونان ټاکلي وو.

محترم راز محمد دغبرګولي دمیاشتې په ( ٣ او ٤ نیټه ) کال ١٣٣٩ لېږدیز - لمریز د ننګرهار دورځپاڼې په ( ٥٢ او ٥٣ ) ګڼې کښې د نجم الدین آخند زاده مشهور مأذونان په لاندې ډول معرفي کړي:

## اول : میا قمر الدین:

میا قمر الدین صاحب په اصل کښې دپېښور د اچنیی ؤ او بیا د هغه ځای ځنې راغی او دلته دننګرهار د روداتو په بړو کښې هستوګنه درلوده. وائي چه ډیر ښه عالم او ښه قلم خاوند ؤ دتدریس او تأليف سره ئې ډیر شوق لرلو چه دده تر اوسه قلمي ځیني چاپي آثار شته دي.

## دوم : د ښتخاک حضرت صاحب:

دبُت خاک حضرت صاحب چه دده مبارک نوم عبد الشکور او دزیاتی تقوا خاوند او ښه عالم او مجاهد هم ؤ . د چکنور ملا صاحب (محترم امیر محمد دمرحوم اخترمحمد زوی دننګر هار دمومند دری اوسیدونکی په کال ١٢٦٠ هجری قمری زیږیدلی او پا کال ١٣٥٠ هجری قمری د ٩٠ کالو په عمر دمارسینګی په منطقه کشی وفات شوی ) چې یو لوی مجاهد شخص و دبتخاک حضرت ځینی ماذون شوی ؤ.

همدارنګه جناب میر صاحب جان پادشاه دسلام پور او استاد صاحب چه اصلی نوم یې جان پادشاه دسلام شور او استاد صاحب چه اصلي نوم یې پاینده محمد ؤ دهمدی بتخاک حضرت صاحب ماذون او خپله د اخونزاده صاحب ډیر ګران مریدان وو چه استاذ صاحب ئې دخپلی کتابخانې متصرف ګرځولی او میر صاحب جان پادشاه صاحب ئې څرنګه چه یو کره او نامتو مجاهد او خانداني سړی و له همدې امله ئی دلنګر انتظام همده ته ور پلاس کړی و.

( مورخین لیکی : دلنګر انتظام مرحوم مولانا نجم الدین اخندزاده په خپل ژوند کښې دکنړ میر صاحب جان پاچا صاحب ته چه په شیخ پاچا سره مشهور و ورپلاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی و چه دمرحوم اخندزاده دوفات نه وروسته هم دده دوصیت سره سم دهمدی پاچا صاحب پلاس کښېښ و او وروسته بیا دده ځوی مرحوم سید عباس پاچا صاحب ئې انتظام کاوه. )

*دریم : صوفی عالم گل صاحب :*

صوفی عالم گل صاحب یو د هغه ماذونانو څخه وچی اخونزاده صاحب په ( پهلون ) سره لقب ورکړی او دصاحب سره ئې په غزاګانو کښېښ اشتراک کړای و او دښه شجاعت او میړانې څښتن و . دترنګزو حاجي صاحب چه فضل واحد نومیده چه هغه یو ډیر عابد او ستر مجاهد وه. د همدې صوفي عالم ګل صاحب ځینې مأذون شوي و .

*څلورم دسر کاڼو میا صاحب:*

میا صاحب چه دده نوم سید اکبر شاه او په اصل دکامې و او بیا ئې په سر کاڼو کښېښ هستو ګنه در لوده، چه د پوره فضل او فیض خاوند و .

*پنځم : حضرت شاه :*

مرحوم حضرت شاه په لغمان کښېښ هستوګنه لرله ، او سید او با تقوا شخصیت و .

سید شمس الدین مجروح ، دقبایلو مستقل رئیس د همدغه مبارک ځوی دی .

*شپږم : محمد سعید جان ( مجددي )*

مرحوم محمد سعید جان ( مجددي ) د چهارباغ صفا نه دی. دی حاجي، او قاري او ښه مبلغ هم و.

*اوم : احمد خان آخونزاده صاحب:*

احمد خان آخونزاده صاحب چه په دولت زائی ملا صاحب سره شهرت لري ښه کره عالم او د صاحب دتحصیل د دورې اکثراً ملګري و .

*اتم : دکو هاټ ملا محمد یاسین :*

دکوهاټ ملا محمد یاسین صاحب دکو هاټ په علاقه کښېښ لوی عالم او مدام به ئې د درس او تدریس وظیفه اجرا کوله .

*نهم : د حصارک میا صاحب :*

په خوږ یانو کښېښ دحصارک میا صاحب چه نوم ئې عبد الرحیم ؤ .

*لسم : ملا محمد حسین :*

دلغمان په سنګر کښېښ ملا محمد حسین صاحب چه په قوم ساپی او دپړوائي شیخ صاحب باندې مشهور ؤ. دی ښه ذاکر او زاهد شخصیت ؤ . دځینو خلکو په روایت سره دا ملي ملا مسلم صاحب دی.

دنجم الدین آخونزاده صاحب د مأذونانو څنې دغه دولس تنه مشهور وو او نور هم شته لکه چه په کوه صافی کښېښ ملا مسعود صاحب او په مملہ کښېښ امام حاجي صاحب او داسی نور .

مأخذ : دهډې آخوندزاده مولانا نجم الدین له کتاب نه، صفحه ( ٤٤ او ٤٥ ) د چاپ کال ١٣٨٦ ( ٢٠٠٧ م ) دمحترم سر محقق عبد الله خدمتګار لیکنه.

*هـــډه :*

(c) ketabton.com: The Digital Library

هډه چه یو وخت ( بتکده ) وه دغازي مولانا نجم الدین آخونزاده عرفاني او روحاني شخصیت په برکت دغه ( بتکده ) داسلام دمقدس دین په یو عالي فرهنګي مرکز باندي مبدله شوه . چې یو دهغې د نمونه څخه د( النجم ) فرهنګي جریده چې دخدای بخښلي ( سیعد افغاني ) لخوا نیم قرن وړاندي په کال ۱۳۳۷ هجري شمسي کښې په دغه مدرسه کښې په خپل نشراتو پیل وکړ.

***

## له هډې آخونزاده صاحب سره دتحفة العاشقین او مکتوبات ارتباط

لیکنه : محمد نبي تدبیر

۱- ملا نجم الدین آخونزاده یا د هډې ملا صاحب یو داسې ګڼ اړخیزه شخصیت ؤ چې علمي او عملي کمالونه دواړه پکې را غونډ شوي وو. ده دیو عالم په توګه بشپړې دیني زده کړې وې ، دیو سالک او عارف په توګه یې دنفس دتزکیې او تصفیې له پاره ځیلیې ایستلې او لوړې ګاللې وې، دیوه مجاهد په توګه یې په ټول افغانستان کې د عارفانو او عالمانو یو داسې روڼ لښکر ایجاد کړای، چې انګریزي ښکیلاک ته یې د ډیورنډ د کرښې دواړه غاړې د اور په سره تبی بدلې کړې وې، له بلې خوا یې دعلم او سلوک د تعمیم له پاره په خپله هم تألیفات کول او خپل مریدان او شاګردان یې هم هځول چې تألیفات وکړی، آثار ولیکی او ګڼور آثار خطاطي کړئ، تکثیر یې کړئ او یو بل ته سوغات کړئ .

مونږ په دې لیکنه کې په دوو هغو آثارو تکیه کوو چې یو د ده مرید په پښتو نظم لیکلي او بل دري نثر دی چې ده پخپله له یوې نسخې نه را نقل کړي او تکثیر کړي یې دي، دا دواړه کتابونه نوي تر لاسه شوي او د دې سمینار په ویاړ یې د تاسو درنو پوهانو په مخه کې ږدم.

لومړی کتاب تحفة العاشقین نومیږي چې دده یوه مخلص مرید ملا عبد الوهاب نظم کړی دی. ملا عبد الو هاب د سید احمد زوی او د کابل د پغمان د زرشاخ دکلي او سیدونکي، دا کتاب دسلوک او عر فان دمقامونو او د حقیقي مینې د رمزونو او رازونو په باب لیکل شوی. لمړی ټوک یې سل مخونه او دوهم ټوک یې ۱۴۶ مخونه لري، چې دواړه په یوه ټوک کې کنډل شوي دي او دبیتونو شمیر یې درې زره شپږ سوه بیتونو ته رسیږي.

ملا عبد الوهاب په خپل کتاب کې تر حمد او نعمت وروسته دسلوک ، دخپل پیر او دخپل کتاب د محتویات په باب لیکي :

راشه پوه شه ای طالبه که مطلوب یې
په رښتیا که ته محب دخپل محبوب یې
دسلوک لاره ده هر ګوره ډیره ګرانه
ولې خدای دې بر طالب کاندي آسانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر طالب چې په ریښتیا طلب دیار که
په ملوینو [1] کې به تل صفت دیار که
ذکر او فکر یې همیش وي له محبوبه
یو ساعت کې خالي نه وي له مطلوبه
په هردم ، په هر قدم ، په هر ساعت
دسلوک په لار ه یون که په فکرت
ولی بویه چې کامل پیروي فرزنده
راه بلدوي کامل پیر په زړه خورسنده
مقامات ورته معلوم و زما دله
په سلوګ کی به غلط نه شي هیڅکله
او که نه چې دغه پیر نه وي ماذونه
داپیر نه دی خبر شه په دا مضمونه
که خواجه ، صاحب زاده او یا مولاوي
که سید، آخونزاده کاریې په غلاوي
دوی له شرعی مخالف کاندي کارونه
په فریب سره یې رد کړه عالمونه
کل عالم وته معلوم دی له کتابه
دابیان دور او دراز دی ای احبابه
ما عبد الوهاب منګول دی لګولې
دهډې پاک اسم یې مسمې په نجم الدین دی
کامل پیر دی د هر چا په دا یقین دی

په کتاب کې دسلوک مقامونه، ذمیمه افعال، حمیده افعال، الله ته قُربَت، دمرید شرطونه، دانساني نفس ډولونه، د روح او دقلب حقیقت، دقلب رڼا او تیاره، دپیر د تلقین لومړی مقام، کامل پیر، غوٍ او قطب، د توحید علم ، ناقص پیر او ناقص مرید، صادق مرید، صدق او اخلاص، دکامل پیر ارشد او نور .

خو په ټول کتاب کې دبحثونو په ترڅ کې دخپل پیر دهډې ملاصاحب نوم اخلي چې ځو نمونې یې دادي :

رارسیږه دهډې پیره کامله
نن مې فکر نه چلیږي یم بیدله
نن مې فکر نه جلیږي یم په غم کې
تل بهږیږم دواړه سترګې مې په غم کې
تل ژړیږم دواړه سترګی مې په نم کې
بل ځای وایي:
دهډې غوث مدت کړه دا زمان
چې له شره د شیطان شم په امان
همدراز وایي :

[1]) شپه او ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس مې نیسه  د هدې پیره کامله
ثنا خوان شم دخپل  خدای لکه بلبه
یا :
لاس مې نیسه دهډې کامله پیره
دګناهو بار مې دروند  دی یم دلګیره
یا :
لویه خدایه  دهډې صاحب مغفور کړی
په خپل در کې یې قبول او هم  مقبول کړی

کتاب دموضوع له اړخه په تحقیقي بڼه لیکل  شوی او د سلوک او عرفان ګڼ کتابونه  یې  ورته کتلي دي او داښیي چې لیکوال یې ښه مطالعه لري ، دی دخپل کتاب اخځونه پر خپل – خپل ځای ښیي اوپه سر کې لیکلي  :

خدایه ته مې داتصنیف کړی منوره
چې بیان دمحبت وي سراسره
کل بیان مې محبت دپاک مولا که
په تحفة العاشقین مې مسمی که
هر سړی چې محبت کاندي له خدایه
دې کتاب ته دې نظر کاندي نیکریه
هر مقصد به حاصل شي که خدای کاندې
که په صدق دی عاشقوي په خدای باندې
داکتاب بیان دعشق حقیقي دی
دمجاز عاشقي کل واړه فاني دی

دده په کتاب کې د ده د کتاب مهم اخځونه داسې راغلي:

« ما ورید » دتفاسیرو  یو راوی دی
چې دعلم مرتبه کې دیر عالي دی
روایت دی د اله  ده نه زما روره
چی ورید رګ متصل په زړه دی ګوره
او په « بحر الحقایق » کې دا رنګ دینه
حقیقت د قُربت دا رنګ دی مینه
په کتاب « کشف الاسرار » کې روایت دی
چې راوی روایت کړی له آیت دی
په « عوارف المعارف » کتاب کې یاره
له معاذه  روایت  دی بر خورداره
پاک الله داسې ویلي په« قرآن » کې
صداقت  په باب دی ذکر په « قرآن » کې

همداسې نور کتابونه دکتاب په لومړی برخه کې دسلوک، طریقت او عرفان فکري او ایډیا لوژیکه برخه ده او په دوهم  ټوک کې یې د عارفانو ، سالکانو او عاشقانو کیسې نظم کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتاب مثنوی د وولس سیلابي ده، شعر یې ځای پر ځای خامی لري، ډېر داسې بیتونه لري چې قافیې ته پکې پاملرنه نه ده شوي لکه:

داکتاب مې مختصر که که پوهیږی
هزار پند دی په هر بیت کې که پوهیږي
په دا رنګ به شیطان وایي هر انسان ته
بعث نشته وکړه سمیع دکلام ته

همدا راز پر مثنوي سر بیره څو غزلې هم ویلي خو ډیرې کمزورې او نیم بندې دي لکه:

هر عاشق چې خود نمای دی عاشق نه دی
چې په عشق کې وي خود رایه عاشق نه دی

په هر حال دتحفة العاشقین کتاب له یو خوا دپښتو ژبې یو نوی تر لاسه شوی کتاب دی او بلی خوا دنجم الدین اخوند زاده یا په بل عبارت دهډې د پیر دیوه مرید تألیف دی چې د پیر او دده د مریدانو د تألیف او تصنیف او دخپلې طریقي او سلوک له خپرولو سره دمینې څرګندویې او ښکارندویې کوي .

دغه تحفة العاشقین دښاغلي استاد حبیب الله رفیع په ځاني کتابتون کی دی چې د لورینې څخه یې په ځانګړې توګه مننه کوم.

## ۲- مکتوبات :

یوه اونۍ وړاندې پیښور ته دپښتو عالمي، ادبي کنوینش ته تللی وم، دپیښور اسلامیه کالج د کتابتون مرستیال حاجي سراج الدین صیب چې د ډیرې مودې ملګری مې و ، لیدوته یې ورغلم، پوره درې کاله مې نه ولیدلی. د اسلامیه کالج په دغه کتابتون کې یو افغان عالم مولانا منیب صیب هم تر سترګي مه شي وروسته کله چې پوه شو چې زه د افغانستان نه ورغلې وم بې له کومې مقدمې را ته دهغه کتاب په اړه چې د ده په لاس کې و وویل :

دا دنجم الدین اخونزاده صیب په خپل لاس لیکل شوي قلمي نسخه ده. خدای شته چې ددې خبرې په اوریدو له یوې خوا خوشاله شوم ما ویل څه خو د ځیړنغونډې دلیکنې له پاره یوبل مأخذ هم پیدا شو خو له بلی خوا مې زړه درزیدو، ما ویل چی مولانا صیب به د مقالې د مأخذ له پاره کتاب را باندې ولوروي او کنه خو زړه مې غټ کړ او ورته مې وویل:

په همدې ورځو کې په ننګرهار کې د افغانستان داطلاعاتو او کلتور او ګرځندوی وزارت له خوا د نجم الدین آخونزاده ( رح ) په اړه ځیړنغونډه ده او دا قلمي نسخه زما د موضوع سره ډیر تړاو لري، که خوښه دې وي زه به ستا ددې کتاب نه یوه کاپي واخلم ، حاجي صیب سراج الدین هم یو څه سپارښتنه پرې وکړه، د مولانا صیب منیب دې کور ودان وي د کتاب کاپي را کړه . چی اوس مې په لاس کې ده.

نو پدې هکله د حاجي صیب سراج الدین او مولانا منیب صیب نه په مننه اوس راځو همدې کتاب ته چې په یوبل ډول له نجم الدین اخونزاده ( رح ) سره تړاو لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library

داد هغه وخت دیوه لوی عالم ملا عبد الرحمان « خان ملا » چې د ملا سعید خان ملا خان زوی دی د دیني او عر فاني دري او عربي لیکونو ټولګه ده چې نجم الدین آخونزاده په خپل خط رانقل کړې او خوندي کړې چې د علم او سلوک د تعمیم په لاره کې دده هڅې او ور سره دده د لاس خط رارسوي .

په کتاب کې پنځه پنځوس مکتوبونه خوندي دي چې بیلا بیلو کسانو ته لیږل شوي او بیلا بیل علمي ، دیني ، عرفاني او سیاسي مطالب لري، لومړی لیک د مولانا عبد الغفور سوات صاحب په نامه دی چې د ملا نجم الدین پیر دی او دلیکونو لیکونکی هم زیات عقیدت او ارادت ورته لري چې د حجت قویه په نامه خپل یو اثر ورته لیږي.

یو بل لیک یې دبیت الله شریف د نبوي جومات خطیب په نامه دی، چې د صاحبزاده عبدالحی سپارښت یې چې حج ته تلیی، ورته کړی دی. یو بل لیک یې د امیر دوست محمد خان په نامه دی چې توصیه یې ورته کړې چې رعیت ته په برابر نظر وګوري او قوي پر کمزوري لوړ ونه ګڼې. یو بل لیک هم د امیر دوست محمد خان په نامه دی چې ده ته یې دروغتیا دوعا پکې کړې ده. یو بل لیک د سرادر زکریا خان په نامه دی چې د حال پو ښتنه یې پکې کړې ده، یوبل لیک دسید عظیم شاه کند هاري په نامه دی چې د عرفان او سلوک لار ورته روښانوي.

ددې رسالې یو بل لیک د مؤلف د زوی ملا سعد الدین په نامه دی چې د تقوی او دینداری لارښوونه ورته کوي . دکتاب دوه دېرشم لیک د ملا میر حسین بازارکی په ځواب کې دی.

د کتاب ځلور دیرشم لیک د وزیر اعظم په نامه دی چې نوم یې نشته خو کیدای شي چې دا به د امیر شیر علي خان د صدراعظم سید نور محمدشاه په نا مه وي چې د ده خدمتونه یې ستایلي ، خپل ملاتړ یې ورسره اعلان کړی او د پر مختک دوعاګانې ورته کړی دي. پنځه دیرشم لیک بیا هم د امیر دوست محمد خان په نامه دی چې د پاچاهی مبارکي یې ور کړې او دخلکو د خدمت او د دین دساتنی بلنه یې ور کړې ده .

اووه دیرشم لیک د ملا مشک عالم آخونزاده په نامه دی چی د ده دینی جهد یې ستایلی دی. د کتاب اته دیرشم لیک د ملا محمد علم آخوند کند هاري کاکړي په نامه دی چی د صو فیانو د اقوالو د اختلاف په اړه یې ورته کښلی دی. نه دیرشم لیک یې بیا هم دخپل زوی ملا سعد الدین په نامه دی چې دوعایې ورته کړې او انساني کمالاتو ته یې را بللی دی.

ځلویښتم لیک یې دسوات صاحب په مړینه یوه تعزیت نامه ده او د هغوی دلوړ شخصیت ستاینه یې پکې کړې ده.

دوه ځلویښتم لیک د شیخ میا تبرک الله دلیک په ځواب کې دی چې له دوی نه یې د دوی د « رد وهابیه » په نامه کتاب چې د امیر شیر علی خان په وخت کې چاپ شوی و، غوښتي چې ده ورلیږلی دی.

دري ځلوېښتم لیک د صوفي عبد الرسول درانی اسحاقزي په نامه دي او د بیوزلانو مرستي او لاسنیوی ته یې رابولي. پنځه ځلویښتم مکتوب د میا عمر جان د لیک په ځواب کې دی. په شپږ ځلویښتم مکتوب کی یې سردار محمد حسن خان او سردار

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیر یندل خان ته د دوی دپلر د مړینی تسلي ورکړی او دوعایې ورته کړي ده ، اوڅلویښتم لیک دسوات صاحب دزوی په نامه دی چې د حالاتو په بدلون یې تشویش ښودلی او لارښوونه یې ورته کړې چې د پلار لاره ونیسي او پر مخ ولاړ شي .
اته څلو یښتم لیک د حاجي ملا محمد اکبر په نامه دی چې د ظاهري او باطني

یاددونه :

دغه مقاله په کال ( ۱۳۸۳ لمریز) کې د اروانښاد نجم الدین آخونزاده څېړنغونده کې لوستل شوې.

## ملا نجم الدین آخونزاده
## د« سعید افغانی » په لیکونو کې

ګـرانـو لوستونکو :

خدایبخښلی دکتور مولوی محمد سعید « سعید افغانی » دخپل کتاب کې چی « زما ژوند» تر عنوان لاندې لیکلی وه او په کال ( ۱۳۶۵ ) هجری کې خپور شوای، دمصلح او مجاهد ملا نجم الدین آخونزاده صاحب په هکله داسې لیکي:

زه دخپل پلار [۱] سره څو واری « هډی » ته د مرحوم ملا نجم الدین آخونزاده صاحب زیارت ته تـلـی یم او اکثر به زما پلار د روژې د مبارکی میاشتې په اولو ورځوکښې د قرآن کریم خـتـم د نجم الدین آخند زاده په جامع جومات کی د زیارت تر څنګه کوه او هلته به د روژی د میاشتو په تراویحو کښې درې شپو کې ټول قرآن کریم ختم او لوستل کیده.

دی ختم ته دمشرقی، ننګرهار حتی د سرحداتو ډیـر خلک را ټولیدل. هلته په هغو شپو کی تود لنګر د هغه ځای د شیخانو د اسلام پور د پاچایانو په مشری چلیده. په دی لنګر کې زرهاؤ خلکو ته ډوډی ورکوله کیدله، ډیر مالونه حلا لیدل او زیاتی وریجی او ډوډی پخیدلې.

دی لنګر ته د روژې په اولو شپو کې زیات خیراتونه او مرستی رسیدلی. مرحوم نجم الدین آخونزاده صاحب د وخت پوه عالم او سالک ؤ. دی د صوات مرحوم ملا غفور آخونزاده مرید ؤ. دی د قادری په طریقی کې پـیر او مرشد ګرځیدلی او په زرهاؤ مریدان او په سلها ؤ مأذونان ئي در لودل. د نجم الدین آخند زاده صاحب مأذونان په ټول افغانستان کې د پوره شهرت خاوندان ؤ.

نجم الدین آخونزاده صاحب لوی مجاهد ؤ او د انګلیسانو په مقابل کې ئی د امیر عبد الرحمن په وخت کې زیاتی مشهورې غزاګانې کړې دي.

دی د امیر عبد الرحمن په عصر کې دمهمندو د قام په « جروبی » علاقې کې اوسیده او بې د امیر د اجازې څخه د انګلیسانو په مقابل کې ئې جهاد کولو تر داسې اندازې دده جهاد قوت موندلی ؤ چی انګلیسانو امیر عبد الرحمن خان ته یو لیک واستوه چې په هغه کې دری لاندی مطالب درج ؤ.

۱- ملا نجم الدین د سرحد څخه لرې کړه ځکه دی زمونږ په مقابل کې د جهاد پارونه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- ځرخي سپه سالار چې په کنړ کې دی هغه د مجاهدینو سره مرسته کوي نو هغه له دې ځای څخه وغواړه او بل چیرې ئې واستوه .

۳- دافغانستان او دسرحد دخلکو سره تک او راتګ بند کړه.

امیر عبد الرحمن خان د انګلیسانو په ځواب کې داسی ولیکل:

۱- نجم الدین آخونزاده صاحب زما په واک نه دی. هغه د مهمندو په آزاده سـیمه کې او سیري او په خپل سر د تاسو په مقابل جګړی تنظیموي. زه په خپله هم د هغه د زیات شهرت او اعتبار څخه ډاریږم. دی دلته په افغانستان کې زیات مریدان او مخلصان لري او خلک په ده باندی د ولایت دومره قوی عقیده لري چې که دوی چیرې پس له محمد صلی الله علیه وسلم په چا باندی د رسالت عقیده منله نو به په دې باندې به ئې دپیغمبری ایمان راوړی وي نو ښه داده چې د افغانستان څخه بیرون وی.

۲- زه حاضریم چې ځرخي سپه سالار دستاسې دلیکنې په اساس دکنړونو څخه بدل کړم خو په دې شرط که چیری هلته د تاسو په ضد وضعه زیاته ورانه شوله مسؤلیت به ئې زما په ذمه نه وي ځکه چې زما به فکر د ځرخی سپه سالار وجود هلته چې پوه او مدبر شخصیت دی دستاسو په ګټه دی.

۳- لطفاً موضوعات لږ دقیق وڅیړي هغه داچې دافغانستان او سرحدي خلکو تر مینځ پولې ارتې او دوی تر مینځه د وروری روابط نه شکیدونکی علایق دي چې هیچا ته دا امکان نه میلاویږی چی ددوی تر منځه تګ او راتګ بند کړی. او که څوک دی کار ته اقدام وکړی ؤ به ئی نشی کړی - ځکه ورور د ورور څخه جداکول او خپل او دخپلوان څخه بندول آسان کار نه دی او هغه هم بیا په داسی ارته سیمه اوبیدیا کې.

وائي: د امیر عبدالرحمن خان په یاداشتونو کې راغلي دي چې ده په پټه د مرحوم نجم الدین آخندزاده صاحب سره رابطه درلوده او په مخفي ډول ئې خلک د انګلیسانو په مقابل کې پارول خو په ظاهر کې د انګلیسانو سره د عدم تعرض متعهد ؤ.

(۱) مولوی عبد المجید د مولانا سید امیر زوی په قوم صافی د لغمان د ولایت دعمرزیو په قریی کې د خیر آباد د کلي او سیدونکی دی.

دی دخپل دوخت لوی مجاهد ؤ او د افغانستان د استقلال او آزادی په جهاد کې یې پوره مؤثره برخه درلوده او دخپلو قومی ځوانانو، مشرانو، شاګردانو او پیروانو سره د انګلیسانو په مقابل کی دډکی، تورخم، او ناقی په سیمو کی جنګیدلی دی.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د «النجم» د قلمي جريدې د ادبي فعاليتونو يوه بيلګه

درنو لوستونکو!

د هډې نجم المدارس د ننګرهار ولايت په جنوب کې د نجم الدين آخـونزاده د زيارت تر څنګ موقعت لري. دا مدرسه د وخت دوو مشهورو مدرسو څخه وه چې ډيرديني علماء ترې فارغ شوي دي او د نجم الدين آخونزاده چې په هډه مشهور وه په نوم ياده شوې ده.

په کال ( ۱۳۲۸ هجری ش) کی مولانا محمد سعيد «سعيد افغاني » فعال، مخکښ ، اجتماعی شخصيت او دينی عالم، ددی دارالعلوم يانجم المدارس په مدرسه کې لمړی د استاد او بيا د مدير په توګه وګمارل شو.

سعيد افغاني ددې مدرسې د مديريت تر څنګ پـه علمي، ديني، سياسي او فرهنګي برخو کې د خلکو د اذهانو د روښانولو په مقصد او موخه ډيرې هلې ځلې کړي دي چې د«النجم »دقلمي اونيزه ديوالي پاڼه يا جريده دهغه وخت د امکاناتو او محدوديتونه سره سره د يادولو وړ ده.

ددې جريدې چلونکی مولانا محمد سعيد«سعيد افغاني» د نجم المدارس مدير او مرستيال يې په هغه وخت کې د دولسم ټولګې ممتاز او با استعداده شاګرد چې دښکلي املا، انشاء او حسن خط خاوند وه ښاغلی حضرت خـان و چې د جريدې د تخنيکــي جـوړښت تر څنګ د مضامينو د انتخاب او ليکلولو کار يې د مـولانا سعيد افغاني تـر مديريت او رهنمايي لاندې پر مخ بيوه.

دا جريده دډيزاين او محتوا له نقطه نظره ډيره پـه زړه پورې وه او د شاګردانو، استادانو او نورو مينه والو د پوره پاملرنې او تو جه وړ ګرځيدلې وه.

غواړم دبيلګې په توګه دښاغلي صديق الله د« مبارک شه» تر سر ليک يوښکلی شعرچې د« النجم»

د جريدې په څلورمه ګنه کې په ۱۳۳۷ هـ ش کال د عقرب په ۲۱ نيټه چې د دغه جريدې يا اونيزې فرهنګي لاسته راوړنو په اړه يې ليکلی او نشر ته سپارل شوی وه ستاسو پام راوګرزوم•

مبارک شه

دغــه عــزم او دا کــار شـه مبارک
د« النجم » دا اخبـار شــه مبــارک
چې غفلت ځينې راويښ قام او ټبرکا
دا خـــدمت او داکــردار شه مبارک

چې غرض يې داسلام لاره ښودل وي
يــو قــدم پدغـــه لار شه مبارک
د افکارو د روزنې درس به راکړي
هر يو درس يې په بار بار شه مبارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــرګنو ته بــه د علم رڼــا ورکړي
دا رڼــا او دا انـــوار شه مبــارک
د ادب او اجتماع لار کــې قدم دی
دا اقـــدام او دا رفتار شه مبادک
سعادت چې دخپل قام اوطن غواړي
د« سعید » دغـــه افکار شه مبارک
د« صدیق » دعاقبوله کړې ای خدایه
دغه سوال ستا په دربار شه مبارک
چهارشنبه د ۱۳۳۷ هـ ش کال دلړم ۲۱ نیټه
دهډي نجم المدارس

یادداشت:
د یادولو وړ بولم چې هغه وخت چې د النجم جریده نشریدله تر اوسه د پښتو املاء او انشاء بعضی د لیکلو ډول او جزیي قواعد بدل شوي خو ما د امانت داري لپاره د هغه وخت ټول مطالب په هماغه رسم الخط ثابت پریښي.

د کتاب ځانګړتیاوې: مولانا نجم الدین آخند زاده د « النجم » په هنداره کښي

لیکنه اوټولونه: امین الدین « سعیدي - سعید افغاني »
دافغان اســتراتیژیکو څـیړنیزمرکز او د حق دلارې کلتوري ټولنې مسؤل مدیر–جرمني

پته :
saidafghani@hotmail.com بریښنا لیک:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انځوريز برخه



# الانجم

چلوونکی «سعید افغانی» د نجم المدارس مدیر
مرستیال «حضرت خان» د دولسم ټولګي شاګرد
اداره په هډه کښې
پته «ننګرهار نجم المدارس»

اوه ورځنۍ پاڼه
پې د رخصتي د ورځو هره
چارشنبه نشریږي

د اخبار د مدرسي جریانات بیني او
اجتماعي ، دیني ، تربیوي خبرونه کوي
«مسلمان»
پوره مسلمان هغه دی چه د ژبې او د لاس
د ضرر نه ئې مسلمان سالم وي «حدیث»

ګڼه (۱) چارشنبه د ۱۳۳۷ کال د میزان (۳۰) (۱) کال


«مرام» «سعید افغاني»

د الله په نوم شروع ده چه رحمن او رحیم دی . د کامل صفت وړ الله پاک دی چه د ټول مخلوق مربي د جزاء او د حساب د ورځې مالك دی لو ځکه وایو چه یوازې تا له عبادت کوو او تنها تا نه معاونت غواړو ترمونږ ته سمه لیاره وښیه د هغو خلکو لیاره چه پیرزو دینه دی پری کړي نه د هغو لیاره چه ستا د غضب لاندې راغلي او نه د هغو کسانو لیاره چه بې لارې روان دی آمین

وصلی الله علی محمد و آله و صحبه و سلم اما بعد

د خلکو خدمت تربیه او یوه ټول دی که خلك پوه شي هرڅه کیږي د پوهو او هم مسئولیت دردی چه په ژبه او قلم سره د خلکو د یوه کولو خدمت په پوره پاك نیت ترسره کړي . د نجم المدارس مدرسه چه د مرحوم نجم الدین اخند زاده روحاني ستر مجاهد ترځنګه د مرحوم غازي اعلحضرت محمد نادرشاه شهید جوړه کړي . د غه مدرسه د ده د صالح خوی اعلحضرت المتوکل علی الله محمد ظاهرشاه په روښانه دوره کښې د غه رشد ته رسیدلی چه د ژبې او د قلم په ذریعه د خلکو خیر او فلاح د پاره خپله تبلیغي وظیفه سرته ورسوي . هو د وطن په منابرو او مجالسو په اخبارونو او مجلو علی الخصوص د ننګرهار په ورځ پاڼه کښې د مدرسي د منسوبینو تبلیغي خدمت هغه دی چه لیدل کیږي په همدغه اساس اوس د «النجم» د اخبار اراده سره د ټولو مشکلاتو مینځ ته راغله د اخبار به یوازې د مدرسي په ګډ ارشاتو اجتماعي ، او دیني ، تربیوي ، مسائلو متعلق خبرونه کوي او س به سم دستي په اوه ورځو کښې یو ځل د چارشنبې په ورځ بې د رخصتي ورځو قلمي څو نسخې د مدرسي د پاره نشریږي امید دی چه آینده به دو سائلو د تکمیل په صورت د عامو خلکو د استفا دې نه هم صرفه او د ورځ ټي مونږ به د غه کار کښې د امید وار دی هغه چا سره لږ څو مره چه مونږ ته د کار او خدمت اراده او ارزولري هم د ضرورت په اندازه شته دی

«خبرونه»

په نجم المدارس کښې د مدرسي د علماؤ له خوا د پاکستان د حکومت او ضاعو باندې چه په هغه ملك کښې ئې نظامي حکومت روان کړی د وزیرانو او مشرانو بندیانول او د خلکو په اختناقو لو بحث دی تاسف او د خورشیني اظهار وشو . د او ضعیت ئې د دنیا د امنطل اباتو موجب د پاکستان د مسلمانو خلکو د پاره ئې د کوم بل ځای په تحریك حا د ثه و بلله .

«سره میاشت»

مونږ خلکو ته د سري میاشتي د مؤسسې تقویه د اسلامي لیار ښوونې په مطابق معرفي کوو امید لرو چه د نجم ز بلو د پاره به د غه مؤسسه د معاونت لاس ورکړي

«د معلم د ورځې په متعلق»

په نجم المدارس کښې د پوهنې د وزارت د غه اقدام ته ښه هرکلی وشو وویل شول چه د معلم د اهمیت او قدر دانۍ په وجه به د افغانستان د آینده نسل تربیه نوره هم قوي شي.

«نوی پروګرام»

سږ کال به نجم المدارس کښې نوی د درسي پروګرام عملي شو د دغه پروګرام به مطابق شرعي علوم ویل کیږي او حیاتي مضامین

« هیله » بناغلی « حضرتخان »

زه ددی اخبار په متعلق دقا درلوا
نا ذرت نه هیله لرم چه دخلکو او
دجامعی د فایدی او د ریمی سعادت
له پاره ئي وسیله وگرځوی
مونږ د مدرسي منسو بینو د پاره
خومره چه دی پاڼی سره په زړونو
کښی علاقه او محبت او دلچسپی لرو
هغومره دخدمت توفیق هم غواړو .
دلوستونکو شوق او ذوق دی د
دوی د استفادی موجب دنوړو د
پاره دی دښو لیار ښونی اساس
شی .

« ژبه او لاس » « سعید افغانی »

ژبه او لاس دژوند په ارخونو کښی
دیوره پام لرنی دی په دژبی او لاس تحرک
باید ادراره شی دکار او خبرو ښه او
بد ترخه او خواږه اکثر په ژبی او
لاس اجراء کیږی .

« پښتون قام » « پاچا خان »

پښتون قام ښه قام دی یا د رچه زما
قام دی ځکه ما ترسنه ښکاری دد نیا دحوا
دنو مقابله ډیره ښه کولی شی هر راز
سختیو ته و دریږی ټوپک ، ماشین او غیر
هر مصیبت ته ټینګیږی خو ډیره پیسوته
نړ شی تینګیدی

« تقدیر » مولوی عبد المجید « حمیدی » مدرس

تقدیر اول مصیبت زده او غمجنو خلکو ته تسلی ورکوی پریشانی کا نی خفګا
نو نه له مینځه باسی . تقدیر خلک د مایوسی نه خلاصوی د اطمینان او امید
واری ساحی ته ئي راباسی کله سړی ډیر ثروت او غناً خاوند شی دتقدیر
په تصور د کبر او غرور نه په ځنګیږی او که بیا ډیرو تکلیفونو او مشقتو
نو سره مخامخ شی بی صبری جزعه او فزعه نه کوی او دتقدیر په
خیال ځانته تسلی ورکوی . آدم علیه السلام باندی موسی علیه السلام
تنقید و نیو چه ته هغه آدم ئي چه دستا په ګناه سره ستا اولاده او لا ده
له جنته راووته آدم علیه السلام دهغه په ځواب کښی وویل چه
ایا تورات زما د پیدا ایښت نه څو کاله دمخه پید او ؟ هغه ورته
وفرمایل چه څلویښت کاله بیا ئي وویل چه تورات کښی دا سی نه دئ
لیکل شوی چه آدم به دا سی کار کوی ؟ موسی علیه السلام وفرمایل
هو آدم علیه السلام وویل نو دا زما کار د تقدیر حکمت ؤ موسی علیه
السلام چپ او آدم علیه السلام غالب شو .

« دتقدیر ګناه نه ده » « سعید افغانی »

تقدیر د قدرت کار دی زمونږ وظیفه کار او عمل دی قدرت مونږ ته
اختیار را کړی عقل او فکر او اعضا لرو وسائل هم شته نو که مونږ چه
کار او عمل نه کوو دا نو د تقدیر ګناه نه ده

« کار او کسب د اسلام په نګاه » مولوی احمد ګل « مدرس »
« د نبوی حدیث نه »

دحلال کسب طلب فرض دی ښه پاک شی چه تا سو خوړی هغه شی دی چه
ستا سو دکار او عمل محصول وی که دحضرت مصطفی « ص » ژوندا
نه ته ځیر شو او د صحابه او احادیثو کتا بونه مطالعه کړو دده علاقه مندی
دکار او کسب سره پوره ور څرګندیږی دمحمد (ص) او صحابه ؤ تجارتونه د ستا ۴

۴ مخ په پاڼو کښی ثبت دی د مصطفی (ص) دلویو عادا تو او خصوصیا تو نه
دا ؤ چه اکثر به ئي خپل کارونه په خپله کول په کور کښی هم ځینی د کور کارونه
په خپله انجامول . هر قسم اوا کار چه ور په مخ کیدو بی د کوم عیب او عار نه ئي
تر سره کوه . ده د ضرورت په وخت کښی د مشا فرینو د کور کارونه هم انجا
مول . هغه چه مشاغل ئي کم وی کولی شی چه دنورو کارونه وکړی مګر
حضرت سید الابرار په دا سی حال کښی چه په ډیرو مهمو مشاغلو مصروف
ؤ دده نه دا سی وضعیت دکار او د خلکو سره دکمال علاقه مندی ښه بلکیږی

« توکل » مولوی عبد الشافی « مدرس »

چه په کار او عمل اقدام وشی بیا د نتیجی او ثمری توکل په خدای
دا توکل دی نه دا چه څه نه کړو شو تا سته پو او داسې توکل په
خدای توکل دکار او فعالیت نه وروسته ځیږ دی که د تدبیر او
مشوری نه کار او خستل شی او سړی بیا بیا هم مایوسه نه شی کار
کیږی او که فرضاً ناکام شی مسئولیت ئي سا قطیږی خدای
پاک د مشوری نه وروسته دکار د عزم په صورت د فتوکل علی الله
امر کړی .

« اعلان »

که څوک په شرعی مسا ئلو کښی
د مدرسی نه پوښتنه وکړی که
د دفعی او د جرحی په مقصد نه وی
مدرسه به د نجم النمدارس د علماؤ
په ذریعه سم دخپلو مقرراتو
سره ځواب ورا ئی .

« دی اخبار د پاره »

دی اخبار ته باید ډیر مختو
مګر زیات مفید او متین
مضا مین تهیه شی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


# النجم

اوه ورځنۍ پاڼه

بې دې خصتي دورې خوړه
چارشنبه نشریږي

چلوونکی «سعید افغانی» دنجم المدارس مدیر
مرستیال «حضرت خان» د دوو بسم ټولګي شاګرد
اداره په هډه کښي
پته: «ننګرهار نجم المدارس»

د اخبار د مدرسې جریانات نشر او
اجتماعي، دیني، تربیوي، خبروني کوي
«مونږ» «سعید افغاني»
مونږ پښتانه مسلمانان یو اصیل پښتون –
او مسلمانان اوو ممه د خپل وطن د خپلو او بهبود لپاره ساتو

ګڼه (۲) چارشنبه د ۱۳۳۷ کال د عقرب (۷) (۱) کال


«د سبز تعلیمي کال» «د مدرسې په انجمن کښي اوري دل شوي» «سعید افغاني»

که خدای کول سبز کال د مدرسې د خدمت د پاره زما خیال دا دی ۱ که د مدرسې تعمیر دلیلمونه ترډ ر سونو پوری پول شي منظم وتړل شي ۲ که دکتاب خانې نه د استفادې د پاره او د اخبارو او جرائدو نه په هغه کتاب خانه کښي کوم تنظیم جوړ د ماز دیګر نه د خوانه د تفریح په دول مطالعه په هغه کتاب خانه کښي وشي بدلا به لوی اوکه په هغه کتاب خانه کښي را دیلو هم د استفادې د پاره وي بنه ده ۳ که د یو مختصر قلمي اخبار په هفته کښي یو ځل خولسي ترتیب شي او د دې د پاره په هره میاشت کښي افتخاري مدیر او د دې اعضا تعیین شي بنه به وي ۴ که زمونږ په لاس کښي یو خه بیسې را شي ترخو ځینې اصلاحي او تنظیمي کارونو د پلیشي رقت د پاره صرف شي لکه د انجمن تنظیم د میلمنو د تګ اوراتګ او د اسې نور ضروري مصارف چه په بودجه کښي ورسره مساعدت نه لرو ۵ په سبز کال کښي مونږ سره دا خیال هم دی که د یو کوم حرفت او صنعت کار چه د مدرسې سره مناسب وي آلات او اسباب پیدا او کار شروع شي ۶ مونږ غواړو چه په سبز کال کښي د مدرسې د طالبو د خوا یجو د تکمیل د پاره چه له یوی خوانه د دوی د احتیاجو د شیانو نه ګټه په لاس را شي او له بلې خوانه د دوی مشکلات هم په نظر کښي ونیول شي د یو د کال سر رشته ضروري ده د اد کال به او س په محلوودی پانګی سره د یو نجی یوی کار په خیر شروع کړو ترڅو د آینده د پاره بنه انکشاف پیدا د مدرسې په ګټه تمام شي مقصد دا چه دا د کال آینده د مدرسې د معلمینو او اداری خلکو د مالي بنیې د تقویې د پاره اساس او د مدرسې د پلیشرفت د پاره هم د طالبانو د مشکلاتو د حل د پاره به هم په کښي خیال دی ۷ د دوولسم ټولګي محصلین دي هر کال د مدرسې د عمومي اصلاحاتو د پاره غور کوي کو ښښ د د کړي چه د مدرسې د ښه والي د پاره د مخکښي کال نه زیات عمومي توجه پیدا لوی تحضت شروع په آخر د کال کښي د خپلو کارونو راپور کلني ټولني ته وړاندې کړي د اکار د اسې صورت لري چه اول تر او له دوه ټولګي اعضایو تر بله اخوت، همدردي، حوصله منه ګناره عملي کړي او بیا د مدرسې د اصولو تعمیل تقوی، خپلو اوضاعو ته ښه تغییر، پاکی، اتفاق، د د نیا د اوضاعو ته باخبر تیا، دوه ورو اسنده اره شوق او ذوق په کار د ښښ ... هم جګړه کښي

«خبرونه»

«د مدرسې د اوضاعو په مناسبت»

۲۹-۷-۳۷ تاریخ ځه په نجم المدارس کښي د مدرسې د اوضاع په حقله مجلس جوړ شو مجلس ملا سید غریب د قرآن کریم په لوستو افتتاح کړو په دغه مجلس کښي مولوي عبد الشافي مولوي عبد المجید مولوي محمد شریف د مدرسې مدرسینو او مولوي محمد ایاز د مدرسې منتظم، محمد اړنګه ملا حضرت خان، ملا عبد الرزاق، «د آصف» ملا محمد ابراهیم» ملا شمس الاسلام سید محي الدین «علوي صدیق الله کوړکی» ملا شاه جهان د مدرسې شاګردانو وینا وی او مضامین ولوستل او ښه مفید نکات ئې بیان کړل په آخر کښي «سعید افغاني» د مدارسي مدیر د استاذانو او شاګردانو د اوضاعو نه د رضائیت اظهار او وی ویلی که څه هم زه د مدرسې په موجوده اوضاعو خوښ یم مګر خو مره چه زمونږ د پاره په کار دی هغو مره بایلا په دغه آساس قوي قدم وند لوی ته شي مجلس د وطن د آرامی او ترقی په دعا خاتمه ومونده.

«بخشش او تحسین»

په دې یم د عقرب د معلم د ورځې په مناسبت په جلال کوټ کښي یو لوی مجلس جوړ شوی ؤ په دغه ټولنه کښي د نجم المدارس مدرسیان او منسوبین هم حاضر ؤ د مجلس په آخر کښي ځینې د مکاتبو معلمینو ته او مولوي احمد ګل د مدرسې مدرس ته د یوی میاشتی معاش مکافات او مولوي محمد شریف او مولوي عبد المجید او مولوي عبد الشافي او مولوي شمس الرحمن د نجم المدارس مدرسینو ته د تحسین ليکونه ... شول.

«د اول مخ پاتې»

جنبش د اخبارو لوجرایدو سره علاقه او څه نور زیات مضمون لیکل او دا اسې لوزضرورې مسایلو ته فکر او توصیه وکړي که ددولسم ټولګي اعضاؤ په وار سره دوه دوه ورځې دروسته دحاضرۍ په وخت کښي یو څو مختصرې جملې د اصلاح په ډول لوز وشاګردانو ته په لاندې شان الطورسره بیان کړي بلکه په دې ټوله د پاکۍ او نظافت دلواقصوځ نیوی دمنا سبو اوملي جاموس پښتنه ٤ په صنوفو کښي یوتي بلکه دملته اخلاق ګذاره ۳ دد مسود اهتمام دپاره غور ۴ دلیلو دتنظیم او ترتیب سرپښتنه او لوتوصیه ۵ دددوی څو په ظرف کښي چه کوم ناوړه حرکات دمتعلمینو له خوا حس شوي وي مجمل په کنایۍ طرز سره یوه کول او توصیه ۶ دحاضرۍ دپاره عمومي وصایا وي ۷ د مدرسې د پیشرفت دپاره د ټولو شاګرو دالو دقت په وسعي سره توجه ۸ اخبار شوق ۹ دمطوح او جماعت، تقوی او پرهیزګارۍ اهتمام ۱۰ دکار او عمل دپاره په ځینې وخت کښي توجه ۱۱ دمدرسې دتعمیر د آبادۍ دپاره دځینو لاسو نوز دقوه ته همکار ځینستل.

زما دغه مطلب دسږ کال دپاره یقین لرم چه لوازې زه په ځینې ترسره کول نه شم که زمونږ د مکتب منسوبینو له خوا مساعدت وي اسید دی چه مدرسه به ددغه افکارو په تعمیل دعقې اسید واري سره ځای کړي د اهم بایلد وو انید چه زه د مدرسې د سطحې د لوړي والي او د اسلام دروی دخدمت دپاره لوز مسئولیتونه او وظایف هم لرم امید کوم چه ددغه مطالبوتي سره کولو دپاره زمونږ د هر وخت احضار ضروري او د ... ګڼل شي بایاڼه.

«اعلان»

که څوک په شرعي مسایلو کښي د مدرسې نه پوښتنه وکړي که ددغي اوجهحا په مقصل توی مدرسه به د نجم المدارس دعلماؤ په ذریعه سم دځینو مقررو لوسره جواب وواني.

«دی اخبار دپاره»

دی اخبار ته باید چې مختص مګر زیات مضید او متین مضامین تهیه شي.

«دوخت اهمیت» مولوي شمس الرحمن «مدرس»

ښکاره او هویدا ده چه هر وخت ځانته او جلا قدار او اهمیت لري او هر کار د ځینو مخصوص وخت پوري موقوف وي. په ځوانۍ کښې تالاش شوق او ذوق حرکت او حرارت وي په زوړ والي کښي بیا بل ډګه حال جلا افکار او سنجش وي. د روغتیا مرتبې او وخت ته د ناروغتیا مرتبه او وخت نشي رسیدل لي د مالداري او هستي وخت باید قلار وکړو د غریبو او ځلو غمه وخوري او د اځکه چه دغه مرتبې ته دفقر او ناتوانۍ مرتبه نشي رسیدلی. مونږ چه ګورو د انسان عمر ددې لوتو لالو او تبدیلاتو سره اخته دی د انسان عمر او ژوند دور دکې توب نه تر ځوانۍ بیل بیل مناسبات لري دا انسان دعمر نه چه لمحه یا ثانیه تیریږي هغوي دانسان دخود عمر ملا کمیږي نو باید هر انسان ځینې عزیز عمر لا دېاني ونه شمیري دیلي بیلي زمانی ځینې څخه استفاده وکړي لکه چه رسول (ص) یو صحابي ته فرمایلي دي غنیمت وګڼه پنځه څیزونه پنځو د پنځو څخه ځوانۍ ځینې پخوا د زوړ والي نه روغتیا ځینې پخوا د ناروغتیا مرینت او توانائي ځینې پخوا دفقر او ناتوانۍ نه فراغت ځینې پخوا د مشغولتیا نه ژوند ځینې پخوا د مرګ نه.

«وطن» «آسف» ددولسم ټولګي زده کوونکی

حقیقت دا دی چه د وطن مینه د هر چا نه زیاته ده دا مینه دا سې څیز دی چه لوی لوی خلک حتی پیغمبران هم ترې ځان نه شي خلاصولی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم کوم وخت چه د مکې شریفې نه هجرت کولو نو دګ په وخت کښي ئې له دیره سوزه څخه مکې معظمې ته دا سې خطاب وکړو چه که زه دستا د اهل له لاسه لوي ولي نو هیڅ کله به زه له تا څخه نه وائې جلا شوی. د وطن مینه او محبت د ایمان څخه یو جز شمیرل شي لونیا پدې آساس مونږ باید د دینه پوې متوجه شو چه دځینو ګران هیواد په آبادي کښي زیار او زحمت وباسو که څوک غواړي چه د وطن د ترقۍ دپاره چوده تیاری او چارې وسنجوي باید د هر څه نه د وطن دخلکو سره مینه درویه ونیسي که مونږ غواړو چه مملکت مو په مترقي ممالکو کښي وشمیرل شي باید چه په ګډه سره د وطن دخیر دپاره ملا وکړو وتړو او ذات او په اخلاقو څخه ځان او لوزو ته دنجات وسایل برابر کړو او په درښتیا ډول سره دورورولي او وحدت لاسو نه ورکړو په دې وخت کښي نړۍ وړکوم چه د مونږ ګران هواد به د ټولو کامیابو مهکن وګرځي.

÷ ÷ ÷ ÷ ÷ ÷ ÷ ÷ ÷ ÷ ÷ ÷ ÷ د النجم ÷ په ÷ حقله

ای ګرانو نیکوالانو ÷ ای د مینې پښتګالو ÷ ای دځا وری څادمانو ÷ ای باضیفه ادیبانو ÷ چه له ځاوری قربانیږی ÷ مال او سر ځنې تیریږي که ÷ دعلم مخ ته ودریږي ÷ ځینو وسینوکښي لغم بیږي ÷ غیرت منو افغانانو ÷ دغه لوی خوب اخبار ÷ په النجم دی یادګار ÷ مضامین ئې مزه دار ÷ که دی ټول که اشعار ÷ مبارک دوی پوهانو دا اخبار به لوی خدمت کړي ÷ خیر خواهي به د ملت کړي ÷ آواز و ته به اوچت کړي ÷ خلک به پوره له غفلت کړي ÷ ښه دځاری دی محبانو ÷ په کښي شته پند او حکمت درس ددین او دیانت ÷ احیا روح کښي تقویت ÷ ښه خبرات او لوی نهضت فدایانو صادقانو ÷ کد ... همدینې ... شته ÷ ښه دفکر منظر شته ÷ ... دوه دری شته ÷ خارجي او هم دي شته ÷ ... ګوروای پوهانو ÷ علوي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

چلوونکی ❀ سعید افغانی ❀ د نجم المدارس مدیر
مرستیال ❀ حضرت خان ❀ د ولسم ټولګی شاګرد
اداره ❀ په هډه کښی ❀
پته ❀ ننګرهار نجم المدارس ❀

# النجم

اوه ورځنی ا پاڼه
پی د ورځنی دوره خوره
چارشنبه نشریږی

د ا اخبار د مدرسی جریانات نښئ او
اجتماعی، دینی، تربیوی، خیروني کوی
❀ ژوند ❀ «سعید افغانی»
ژوند یوه معنی ده د امعنی هغه چا حل کړی چه د ځان
او د جهان په فکر په پاک عشقی حرکت او جنبش وړاندی

ګڼه -۳- چارشنبه د ۱۳۳۷ کال د عقرب -۱۴- -۱- کال

## ❀ امید واري ❀

«حمیم کاکړ»

موږ د غه اخبار ته نهایت خوش بین یو او دا ځکه چه د علماو په غاړه تبلیغ او امر بالمعروف دی او د تبلیغ لپاره هر ډول جنبی لری خو له او قلم دوی
د پاره چه د نجم المدارس ټولو علماو د قلمی تبلیغ لپاره هم تقویه او ترسیم شی دا النجم د اخبار کار شروع شوی ګمان کوم دا اخبار که څه هم
اوس د مدرسی د مدرسینو او متعلمینو لپاره خیریږی لاکن د وسائلو او شرایطو د پوره کیدو په اثر کیدای شی چه د مدرسی له حوله عام اخبار
او د خلکو د دینی خدمت په لیار کښی یو موثر قدم شی او هرڅای ته ورسیږی دا النجم د لید ونه معلومیږی چه د النجم اخبار دینی تربیوی
اجتماعی شیان خپروی او د مدرسی جریانات او پرمخ تګ باندی لظر اندازی او د علماو او د خلکو په افکارو کښی دیو والی او همکاری
لپاره کار کوی خو ټول به یو فکر او متین
عزم سره د حکومت او ملت د خیر او ښه
د پاره کار وکړی همدا رنګه معلومیږی
چه دا النجم اخبار غواړی چه ځینی علمی مضامینو
سره د خلکو افکار تنویر او روښان کړی
او بد رسومات او پراګنده خرافات د خلکو
نه لری کړی او د اسلامی دین په اصلی اساس
او شه لیار کوم چه د هر چا د خیر لحاظ په
کښی وی خلک رهوان کړی نو په دی ملحوظ
دا اخبار ډیر یو مبارک اخبار او یو عالی
مطلب او هدف لری نو مو باید هرڅوک
دی اخبار ته خوش بین او د تقویې لحاظ
ئې وساتی ❀ خدایه ❀
د پښتون د کامیابی لپاره خدایه
د پښتون د نیک نامی لپاره خدایه
دا النجم ښه اوچت او ښه بالا کړی
د پښتون مل د ګاری لپاره خدایه
چه راټول کړی پښتانه په یوه لپاره
ځنی منځو کښی همکاری لپاره خدایه
دا النجم واسطه او ذریعه کړی
د پښتون د غمخواری لپاره خدایه
د النجم لکه نجم ښه رڼا کړی
د حمیم د دی زاری لپاره خدایه

## ❀ زړه ❀

«محمد افغانی ..»

په بدن کښی د غوښی یوه ټوټه ده چه صالحه شی ټول بدن ښه کیږی او که فاسده شی ټول بدن فاسد کیږی با خبرا وسیږی چه د غه ټوټه زړه دی ❀ حدیث شریف ❀
زړه د روح مرکز دی او په ټول بدن باندی ریاست لری د زړه اصلاح په علم سره اوشي
او د علم اندازه په عمل کښی معلومیږی هغه عمل په کار دی چه د خیر او ښه والی اندازه ورسره
د خدای «ج» د رضا موجب د ځان او د خلکو په دنیا وخوری تقوی او پرهیزګاری د زړه
کار دی ښه ګڼ اره ښه سلوک هم د زړه اړه ده او عزم غواړی د ځان او د خلکو د ښه والی
لپاره هغه زړه کوی چه د النسانیت په رڼا روښانه وی د زړه ځان روښانه
روښانه نوی نو رانیت پیدا کوی او پوهه منځ ته راوړی ❀

## ❀ پوهه ❀

هغه خلک پوهیږی چه د ځان او د بل د خپل او پردی په پیژندلو او پیلاژنو بینه کښی
کښی خطا نشی هغه قوم حتماً مخ په وړاندی ځی چه د ژوند په اساس د و پوهلوی او واره
په ګام د خپل اساسی هدف تعقیب وکړی هغه ملت د ژوند حق لری چه د دوی
ذهنی انکشاف د راینده او مستقبل په سنجولو کښی د استدلال او د منطق د تعمق او د ژور
فکر په بنا رهوان وی داسی نه چه کورکورانه تقلید او هر څه ته په سطحی نګاه کتل وی هغه
علم په درد خوری چه د ضرورت او د خیر اندازه ورسره داسی نه چه چیچی خوشی تیریدل
او ځان ستودل وی هغه کار ته باید اقدام وشی چه د بوالهوسی نه بهر ځان او د خلکو
د زیان نه خالی د عصر او زمان مستند ایجابات او د ملت معقول عنعنات ئې و منی هغه
پوهان باید د خلکو مقدرات وسنجوی چه د خلکو د ذهنی استعداد اندازه لګولی شی هغه
وخت باید خبره وشی چه تاثیر وښی د خلکو سره باید هغه وضعیت ونیول شی چه په یو قدر
ترآخره ئې وچلوی هغه خلکو ته باید موقع ورکړی شی چه د علم او پوهی په مساوی درجه
او وجدان خاوندوی د هغه شخص باید قدر وشي چه ځینی خیر او ښه د جامعی په خیر او ښه کښی ګوری هغه ډاکتر او فیلسوف دی چه
د قوم په درد پوه د محیط د اوضاعو په مناسب د د اصلاحاتو چاره وکړی شی د قوم او د وطن بنیادی ضرورت پوهه اقتصاد
او صحت دی نو په دی ملحوظ هغه قوم او وطن کامیاب او موفق دی چه په د غه دری واړه شعبو کښی د کار خلک په کار اچوی

«سعید افغانی»

## « محبت » — حضرت خان

محبت یوه د زړه پورې خوږه کلمه ده چه هغې ته د
لوی چا، یا یو شي او یا یو کار سره مینه رښتیا
او علاقه لرل دي. د انسانیت حقیقي تکامل او پوره
والی په محبت سره راځي. په نړۍ کښې هغه څوک
هدف او مطلوب ته رسېدلای شي چه د خپل هدف
په لیار کښې په محبت سره قدمونه پورته کوي. هر
چا ته چه په خپل کار کښې محبت وي نو کار ورته
بې تکلیفه او سړه انجامیږي هو دغه شان په کور
کښې هم د افرادو محبت د کور د انتظام د پاره
ښایسته ګټه شوی او بیا یې یو کلي او قریه کښې
د خلکو یو تر بله مینه او محبت د هغه کلي او قریې
ته د نیک نامۍ او ښېګڼې لویه وسیله
ګرځي د یو قوم او ملت لوړتیا او پرمختګ
د محبت له بلوه حاصلیږي په خلکو کښې اتفاق
او یو والی هم له محبت څخه زیږیږي نو او انسانیت
ته نیستي نشته دا چه محبت سره هر څه کیدای
شي او د هر څه لپاره یو اساسي عامل او قوي
محرک محبت دی دنیتیا محبت یو قوي محرک دی
مګر دومره لازم دی چه د محبت مناسب ځایونه
وپېژنو او په دغه اساس د محبت قدمونه پورته کړو

## معاونت — « سلطان عزیز »

وتعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان واتقوا الله ان الله شدید العقاب – قران کریم
د انسان د ګټه اری لوړو او د ګډ ژوندون موضوع
یره مهمه او بار یکه مسئله ده لوړه دی ضروري مسئلې
د حل د پاره الله (ج) حکیم حقیقي د مخکښې آیات په
ذریعه لیار ښوونه کړې او ارشاد یې فرمایلی چه
مطلب یې دادی د ښو کارونو په کولو او د بدو کا
رونو نه په ځان ساتلو کومک او مل د کارې
کوي په ګناه کولو او تجاوز باندې یو تر بله مرسته
او معاونت مه کوي خدای پاک خپل دا هدایت
سره تقویه کوي او وائي ودار ډېرۍ د الله (ج)
څخه او دا ځکه چه یقینا الله پاک ډېر سخت
دی د عذاب له بلوه) یعنې بدی مه کوئ هدایت
د دا اسې لوی مقتدر ذات الله (ج) باندې عمل
وکړي ښښیانې مونږ د دائمي سعادت د پاره یو
تر بله د اصلاح خیال او تعاون هم ضروري دی هغه
وخت چه ټول خلک اصلاح شي بیا کیدی شي
چه دا مشترک او د هر یو ځانته پیتی هم
تر تول مطلوب منزل پورې ورسیږي.

## اعلان

که څوک به مشرحي مسایلو کښې د مدرسې
نه پوښتنه وکړي که د دغې او د چې
په مقصد نه دی مدرسه به د نجم العلما
رس د علماؤ په ذریعه سره د خپلو مقا
لو سره ځواب ورکوي

## « حصیله »

مونږ غواړو چه د نجم الدین اخندزاده
صاحب سره مجاهد د سوانحو په حقله
څه ولیکو که چاته د ده د ژوند
انه د حالاتو او د ده د غزاګانو
او د ده د ماذونانو او مخلصا
نو په متعلق موثوق معلومات
وی هیله کوو چه په دغه لیار
کښې مونږ سره معاونت وکړي

## د اخبار د پاره

دې اخبار د پاره باید ډېر مختصر
مګر زیات مفید او متین مضامین
تصیه شي

## همکاري

« حمدالله د ره نوی »

هر قوم او ملت د خپل اجتماعي ژوند د مخکښې بیولو او د ټولو نېکمرغیو د پوره کولو لپاره همکارۍ او یو تر بله مرستې او لاس ورکولو لپاره
په هر وخت کښې ضرورت حس کوي هو د تاریخ څېړنو له مخې څرګنده شوې ده کوم محیط او جامعه کښې چه د همکارۍ روح قوي
شوی او ددې په مذاق خلکو کار کړی معنوي د ترقي په لیار کښې ډېر قوي قوي ګامونه اوچت کړي او په ابرومند اند طور سره
خپل مقصود منزل ته رسیدلي دي بالمقابل له دې بې بها نعمت څخه بې برخې او پس پاتې طبقات د فنا خوا ته دوان د فلاکتونو په
پاته دره یاب کښې غرق د فلاح او نجات ذرائع او ګذرونه ور څخه ورک شوي دي له همدې امله اسلامي قوانینو دې لفظي همکارۍ
ته پوره توجه او پام لرنه کړې ده او د همکارۍ د خیال ساتلو په باره کښې یې سره اکید اشارات صادر کړي دي رښتیا ده چه ځان
له یو سمې او یا یو اړخیزي یو اندام نور کارونه هیڅکله نه ترسره کیږي ځکه چه د انسان حیاتي درجه د حیات ډېر شفقوته احتیا
جات لري او هر شی ضرور صحیح کار د کولو غوښتي چه دا نور بیا په کړه سره د همکارۍ د لیارې نه خپل حقیقي مرام او مقصد ته په
موفقانه صورت سره ځانونه ورسوي انسان د اسبابو په عالم کښې زیږیدلی او د اسبابو په واسطه ژوند کوي دې هیڅکله نشي
کولی چه ټول شیان خود سره یې د کوم اسبابو او وسائطو څخه مفت پلاس راوړي بلکه د دې د پاره د هر څه نه مخکښې د هر شي منا
شیو او مصادرو پلاره ته ضرورت ده د همکارۍ د پاره دا دوه شیان ډېر اهم او ضروري دي ۱ د مطلب یو والی ۲ یو تر بله
اعتماد نو باید مونږ کوشش وکړو چه یو تر بله په خبرو ځان سره یوه کړو او د اعتماد وسائل برابر کړو که دلته موجوده حالت با
ندې نظر واچوو مونږ مجبور یو چه د همکارۍ د پاره پوره اهتمام وکړو ځکه چه قوم ملت او حکومت کامیابي او کامیاب د همکارۍ نه بغیر
نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library


# النجم

چلوونکی «سعید افغانی» د نجم المدارس مدیر — اوه ورځنی پاڼه — دا خبار د مدرسی جریانات ښیی او

مرستیال «محمد فتح خان» د دولسم ټولګی شاګرد — بې د رخصتی د ورځو هره — اجتماعی دینی، تربیوی خبرونې کوی

اداره په هډه کښی — چارشنبه نشریږی — «بیداری» سعید افغانی

پته «ننګرهار نجم المدارس» — خو مره چه غواړو بیدارخدمت وکړو هغو مره باید پوره بیدار او سو و یله ئ نورو داو بیدو باروی.

ګڼه (٤) چارشنبه د ۱۳۳۷ کال د عقرب (۲۱) (۱) کال


## «مصلح او مجاهد» سعید افغانی

دد غه عنوان لاندی غواړم چه د ملا نجم الدین اخند زاده صاحب سوانح چه په خپل وخت کښی زیات مصلح او د انګلیسانو په مقابل کښی په کلکه ډول جنګیدلی بیان کړم. «دده اجمالی پیژندنه»

ملا نجم الدین اخند زاده صاحب د امیر عبد الرحمن د پاچاهئ په وخت کښی یو د لوی اعتبار خاوند وُ. دغه شادی سره د ماذونافو د کابل په بنا کښی بندی کړو. دی د بندی خانی نه په یو خاص ترتیب مخ په مشرقی و تښتیدهٔ او هلته د مهمند و مشرقی په سرحد تو کښی د مهمندو په سیمه په ژوبی او چم کند کښی او سیدهٔ او د انګلیسانو په مقابل کښی به جنګیدهٔ. دی بیا د امیر حبیب الله خان د پاچاهئ په وخت کښی د هغه په غوښتنه او اعتماد بیرته افغانستان ته راغی او د ننګرهار په ولایت کښی د جلال کوټ نه مخ په جنوب د هډې په قریه کښی اوسیدهٔ. ده د همدغه پاچا په عمر کښی د پردا سلام د دین اساسونه محکم کړو او هر کی خواته ئی دلیشی او بلی خوری شوی او دی د درسی لوی شخصیت خاوند شو چه په ټول افغانستان کښی ده د خلکو په عقیده و حاکمیت د رلوده دغه ملی شخصیت د همدغه امیر حبیب الله په وخت کښی ۱۳۳۰ ۱۳۱۹ هجری قمری کال د وجه د اجل داعی ته لبیک ووېلی.

په دی حساب دده د وفات تاریخ «قبر غازی» دی ۱۳۲۰ دده مزار او مقابره د هډې په قریه کښی دی او د اعلی حضرت سردار محمد داود د افغانستان د صدر اعظم په اهتمام بنیه جوړه شوی ده دده هډیره د ټول مشرقی او سرحد بلکه د ټول افغانستان او پښتونستان د خلکو د عقیدی ځای دی.

## «پوښتنه» اداره

مدرسه به څنګه مخکښی لاړه شی ؟؟؟ یو مختصر او معقول ځواب غواړو.

### (۱) «ځواب» سعید افغانی

د مدرسی د پاره د همکاری خیال ضروری دی ترڅو علماء کار خلک خیرخوا او مفید و پیژنی.

### (۲) «ځواب» محمد نواز د دار الحفاظ مدرس

د مدرسی د پیشرفت د پاره هرڅه نه مخکښی تقوی ضروری ده ځکه چه اسلام په تقوی او پرهیزګاری سره پیشرفت کړی دی.

### (۳) «ځواب» مولوی احمد ګل د نجم المدارس مدرس

مدرسه به هله مخ پروړاندی لاړه شی چه په دی کښی د درسی افراد تربیه شی چه د دین او جامعی د دردونو دوا شی یعنی بشر تربیه.

### (۴) «ځواب» مولوی عبد المجید نجم المدارس مدرس

زما په خیال چه د مدرسی د ترقی د پاره دا په کار دی چه مدرسه دوی برخی شی یوه رسمی او بله ملی چه یوه برخه د حکومت په مرسته او دویمه برخه د ملت په مرسته مخ پروړاندی لاړه شی.

### (۵) «ځواب» مولوی شمس الرحمن د نجم المدارس مدرس

د مدرسی د مخکښی تللو د پاره ۱ باید چه په ما بین د منسوبینو د مدرسی کښی اتفاق او اتحاد وی او هم یو مدرسه خپله وګڼی ۲ د خلکو سره علاقه پیدا کول او د خلکو د ذوق سره سم مناسب اصلاحات کول په کار دی.

## «جهان» شاجهان د لیوو لسم ټولګی شاګرد

حقیقةً که بشر د ذرې په ستر ګو د جهان په دی لوی او ازاده فضا کښی نظر واچوی او د عقل په ذره بین کښی په دقت سره کتل وکړی نو خود به و پوهیږی چه جهان ئن په کومه اندازه وړاندی تللی او په دی به هم و پوهیږی چه د دنیا په ټولو خواو کښی ترقی چه ئن بیرون په جهان کښی لیدل کیږی په هغه او د خبرو په لاس راغلی؟ نن په جهان کښی هغه شیان موجود دی چه څو زما نه مخکښی د بشر عقل نه منل د شونی په ټو ګه ګڼل کیدل، مصنوعی سپوږمۍ او د وسی نور چه نره دنیائی د وجود څخه بی خبره په تیره مونږ پوهیږو چه دغه نهضت خلکو منځ ته راوستلی او د انسان عقل او نبجاوی، کار او عمل د دی مدارج طی کړی هو کار او عمل لوی منزلت لری زمونږ ټول مطالب زمونږ د حرکت پوری مربوط دی که مونږ غواړو چه د جهان سره متساوی ژوند وکړو نو لازمه ده چه په کسب او کار کښی منګلی ښخ کړو. د د به د مروت خبره نه وی چه د بل چا د سعی او عمل په محصول باندی ژوند وکړو.

## «د جهان د پاره» اداره

[illegible] مونږ هم ژوندی یو مونږ هم د جهان په یوه [illegible] څنډه کښی ژوند کوو نو مونږ ته هم په کار ده چه د جهان د دی څنډی د رفاهیت خیال وساتو زمونږ د وطن اړامی د دنیا او د جهان د اړامی په مسایلو کښی پوره لاس لری نو میباید مونږ د ځان او د نور جهان د خلکو د اړامی د پاره کار وکړو نوره دنیا هم باید د دنیا د دی څنډی د اړامی د پاره د ځان د اړامی په لحاظ د پوره معاونت او مرستی نه کار واخلی که د انسان یو فرد نا رامه وی او مرور وی د وران انسان نا ارامی موجب ګرځی نو مونږ باید ځان او جهان ته څه ګر چه لازمه ده باید ښه متوجه شو

## « مبارک »

صدیق الله ککړکی

دغه عزم او دا کار شه مبارک
د النجم دا اخبار شه مبارک

چه غفلت ځنی راولیښ قدم او تیار کا
دا خدمت او دا کردار شه مبارک

چه غرض ئې د اسلام لاره ښودول وی
یو قدم په دغه لار شه مبارک

د افکار او د روزنی درس به را کړی
هر یو درس ئې په بار بار شه مبارک

پښتنو ته به د علم رڼا ورکړی
دا رڼا او دا انوار شه مبارک

د ادب او اجتماع لار کښنی قدم دی
دا قدم او دا رفتار شه مبارک

سعادت چه د خپل قام او وطن غواړی
د « سعید » دغه افکار شه مبارک

د صادق دعا قبوله کړه ای خدایه
دغه سوال ستا په دربار شه مبارک

## « د النجم خدمت »

شمس الاسلام « شمس »

دغه اخبار چه د النجم په ځلانده نامه سره یادیږی د دی اخبار د معنا مینو ولید و نه معلومیږی چه د وطن او د اسلام د ترقی او خیرخواهی په مقصد منځ ته راوتلی دی. دغه اخبار که څه هم اوس د گوتو د زحمت پنګه او د یو قلمی اخبار په څیر خاص د مدرسی د خلکو د تربیی په نیت دی مگر امید کوو چه انشاء الله د سبا یو د برا بوید په وخت به د قبول دولت او ملت د خیرخواهی په مطلب د عام المنفعت نمونه وگرځی ځکه چه دا اخبار د تول مشرقی د علماؤ د مرکز د نجم المدارس نه خپریږی او د هغو منلو علماؤ د ارشاداتو محصول دی چه همیشه د ملت او دولت د خیر او اصلاح په متعلق د یوی مجربی نسخی په څیر معلومیږی هو د مشرقی ټوه خلک عقیده لری چه د نجم المدارس علماؤ د ملت او حکومت د دوامی او نهضت د پاره همیشه د مجاهدی په لوی میدان کښنی لیدل کیږی. د دوی د ملت او حکومت په منځ کښنی بهترین عناصر دی د دوی د خلکو د خیر او بهبود په ملحوظ په ځان د پروونه او تکلیفونه گاللی او گاللی به ئې د دی اخبار د خدمت د پاره هغه علماؤ کارکوی چه په دننه مملکت کښنی [redacted] قوی قومی رښتی او د ازمینښت په ډگر کښنی د بریالی توب نښانی لری موږ هیله کوو چه د همیش د پاره د نجم المدارس علماؤ خپل د تبلیغ مجربی نسخی د مراموږ په مواقق د دغه اخبار په دا سطه په کار ۴۰ ...

## وظیفه

مولوی محمد ایاز د نجم المدارس متعلم

الله پاک هر انسان ته سم د پیدایښت سره بیله بیله وظیفه په غاړه کړی او سپارلی ده مگر د و مره خبره باید و منل شی چه قدرت د هر یو وظایف مختلف او د هغه د توان په اندازه تا کلیدی کړ موږ د وظیفی د انجا مولو اهمیت ته ملتفت شو او د و مرو برا ته ظاهره او ځلانده شی چه کوم انسان د لوی نوم او نښان او عزة خاوند شوی او یا د خدای په دربار کښنی ئې د منزلت مقام نیولی دا محض او محض د خپلی وظیفی قدر او د ایفا کولو برکت دی د دنیا هر څومره چه سړی د خپلی وظیفی په حقله توجه وکړی هغومره به د دارینی سعادت سره مخ جه کیږی دلته باید د رهم وویل شی چه د وظیفی انجامول او سرته رسول هله پوره کیږی چه سړی ځان د دی لایق کړی چه یو اندازه اختیارات او اعتماد منځ ته راولی او که نه د وظیفی انجامول ضرور د مشکلاتو او یا د ناکامی سره مخامخ کیږی محض اختیارات که څه هم تر د خودسری سره یو ځای شی د عقل او تدبیر په بنا نه وی او کوم پروگرام و نه لری زما په فکر د اسی هم په کامله صورت سره نشی کامیا بیدای که غوړی چه تاسی خپله وظیفه ښه ورسوی او کامیاب شی نو باید چه د عقل او تدبیر نه کار واخلی او یو صحیح او معقول پروگرام جوړ کړی د وظیفی د پاره وخت پیژندل او د مصلحو خلکو مشوره هم ضروری ده موږ باید د تدبیر خلک و پیژنو او وظیفه هم هغومره چه وی و سنجوو او ما یو سه نشو کار وکړو او شهر پاک نیت د خلکو سره په پاکی ګذاره او وفا د وظیفی مشکلات حتماً حل کوی.

## « اعلان »

موږ غواړو چه د نجم الدین اخندزاده صاحب ستر مجاهد د سوانحو په حقله څه ولیکو کرچا ته د ده د ژوندانه د حالاتو او د ده د غزاګانو او د ده د ماذونانو او مخلصانو په متعلق موثوق معلومات وی هیله کوو چه په دغه لیار کښنی موږ سره معاونت وکړی

۴ واچوی او خپل تبلیغی وجائب د عمومی منفعت د پاره دریغ نه کړی. موږ هیله کوو چه مقتدر خلک د اسی عام المنفعت اخبار ته د چاپ کولو وسائل برابر کړی.

د النجم « اداره » د ښاغلی « شمس » او « ککړکی » نه د دی مضمون په استولو چه د یو ښه خیال په ساحه کښنی ئې لیکلی تشکر کوی امید دی چه په دغه لیار کښنی به خیرخواه عناصر وسائل برابر کړی

« اداره »

(c) ketabton.com: The Digital Library


# النجم

اوه ورځنی پاڼه

بی درخصتی دورځو هره

چارشنبه نشریږی

چلوونکی «سعید افغانی» دنجم المدارس مدیر

مرستیال «حضرتخان» ددوهم ټولګی شاګرد

اداره یې هډه کښی

پته «ننګرهار نجم المدارس»

«اخبار د مدرسی جریانات بشپړ او اجتماعی، دینی، تربیوی، خبروني کوی

«تدبیر او مشوره»

انسان که خه هم پوه وی بیا هم نه پوهیږی نو لازمه ده چه تل په ټولو کارو کښی بشپړ تدبیر او مشورې ته منقاد شی.

ګڼه (۵) چارشنبه د ۱۳۳۷ کال د عقرب (۲۸) (۱) کال


(۲) «دده تفصیلی پیژندنه»

سعید افغانی

دنجم الدین اخندزاده صاحب رحمة الله علیه دمفصل پیژندلو دپاره په کارده چه په لاندی ډول سرخی وپیژنو

۱ دده عمر او حیات او قواره ۲ دده هویت قوم او نسب ۳ دده اصلی او فرعی مسکن ۴ دده تحصیل او علم ۵ دده تصوف ۶ دده جهاد ۷ دده د شهرت انداز او کارروائی تر مرګه پوری ۸ دده مشهور ماذونان او منسوبین ۹ دده د مرګ نه وروسته شهرت او تاثیرات

مګر ډیر تاسف دی چه ددرسی ټولو شخصیت چه د ټول حیات ګذارشات او حرکات یې نهایت متانت او سنجیده ګی لری. هغومره چه ویل کیږی او ویل کیږی او یائی و شو په دغه اندازه دده دسوانح دلیکلو دپاره چا کوښښ نه دی کړی په دغه حقله زمونږ ګیله دده دمعقولو منسوبینو نه کوم چه په خپل وخت کښی نهایت منلی تیر شوی زیاتره یو اوزی د ملاطوطی اخند نه هغه هم صرف دده د مواعظو تذکره مګر نهایت ناقص لیدل کیږی او بس. بهر صورت که اوس هم زمونږ په لاس کښی مطلوبه معلومات راشی امید دی چه څه ناڅه خو به تری جوړ شی او د آینده د پاره به ګوندی په دغه اوزو دده په عقیدت مندو کوښښ وکړی چه زمونږ د هدف نارسیده مطالب تکمیل او پوره کړی باور کوم چه په دغه بیا کښی سعیه به دده دعقیدت مندی ښه ثبوت وی ۲ زمونږ په لاس کښی تحریری اسناد ډیر کم دی کوم تحریری سند چه زمونږ په لاس کښی

## «بیداری»

محمود ددوهم ټولګی شاګرد

که څه هم په دنیا کښی د بیداری او اوزو نه پوره ته کیږی او روح ته ورځ اکثر خلک پوهاند ازه پوه او بیداری مګر بیا هم باید د بیداری په حقیقی معنی پوه او اصلی هدف او مرام ئی وپیژنو زما په عقیده بیداری نفس چالاکی او یا پورته ګه خود نمائی نه ده بیداری دیته نه شی ویلی چه سړی دیو کسب او یا دکوم شخصی کال خاوند یا په یو ډول سره ځانته هستی او مال پیدا کړی. دی په خپلی بیداری کښی دجامعی او دوطن او دقام دپاره خیال ونه ساتی. هو هغه کار چه دعام خلکو د خیر سره مصادم واقع کیږی او د اصلاحی قانون ته یې کار رسوی بیداری لاحتی بلکه دجهل په تورو پردو کښی غافلانه خوب کول دی هو بیداری یو داسی پوهه ده چه د بشری نقیصو محک او دعمومی هوسائی موجبه ده اوس که شه دقت وکړو نو تا بته شوه چه حقیقة بیداری هغه څوک دی چه د علم او پوهی دلاری خپل ضروریات حس او دپوره کولو اسباب ئی وسنجولی شی د هر چا حق در ترمعلوم په هیڅ ډول سره ئی تلف او پایمال نکړی مثلاً دکښی و پیژنی دحقوقو احترام او د تاریخی شخصیتونو نه دجامعی په اصلاح کښی ساعی د بشر د هوسائی او رفاهیت اسباب پیدا کړی خپل رفعت او ترقی د جامعی په ترقی او تعالی کښی و ګوری په آخر کښی د خپلو پوهانو او بیدارو ملګرو څخه دا هیله لرو چه خپله بیداری په کار واچوی او حتی المقدور د جامعی د پرمخ تګ وسائلو ته حاضر شی

## «پوښتنه»

اداره

مدرسه په څنګه مخکښی لاړ شی؟؟؟ یو مختصر او معقول ځواب غواړو.

### (۶) «ځواب»

حمدالله دره نوری

که چیری د تعلیمی پروګرام سره سم یو اخلاقی او عملی پروګرام هم په مدرسه کښی په لازمی صورت مقرر او ورسره سم ټول افراد د روز لپه شی شک نشته چه د مدرسی محبوبیت به د هر چا په زړه کښی راسخ د ملت او حکومت دواړو ګانو سره به موفق کار وکړی شی چه دا د مدرسی عین پیشرفت دی.

### (۷) «ځواب»

سید غریب د دوهم ټولګی شاګرد

زما په خیال د مدرسی د مخکښی تلو دپاره دا ضرور ده چه ټول منسوبین ددی مدرسی دپاک نیت خاوندان او ایماناً او وجداناً د مدرسی دخیر دپاره کار وکړی

### (۸) «ځواب»

شمس الاسلام «شمس»

د مدرسی د پرمخ تګ د پاره دا ضروری ده چه د مدرسی ټول منسوبین او ل خپل نقصانات وپیژنی او بیائی په لری کولو کښی عملی اقدامات وکړی چه د خلکو په نظر کښی محبوبیت پیدا شی.

### (۹) «ځواب»

مولوی محمد ایاز

مدرسه به هله مخکښی لاړه شی چه د دی په یو فکر او پاک زړه او صاف نیت په کلک عزم او په پوره محبت بی دخود نمائی د مدرسی د ترقی دپاره تیاری او چاری وسنجوی او عملاً هغی ته اقدام وکړی.

ښته. هغه یوازی دده د فوت تاریخ بسی چه په «۱۳۲۰» او یا «۱۳۱۹» هجری قمری کال کښی فوت شوی چه دده نه ددی د ټول عمر انداز نشی معلومیدلی مګر شفاهاً مونږ ډیر اوریدلی چه اخندزاده صاحب عمر د نوی کلو په حد ددو کښی اندازه کیدلی شو خلک وائی چه ښه قوی وجود ئی درلوده مګر د ریاضت او تقوی په وجه نحیف او ضعیف شوی وُ حتی چه د ډیر ریاضت په وجه دده دلاسو ګوته شنه شنه بلقیدل. وائی چه دی ښه خوش قواره چه سړی وُ او په اوچلی باندی شین خال هم درلوده او دده دشین ښکلی خال شهرت زیات وُ دده رنګ او قواره با تا ثیره هیبت ناکه وه دوار یې په خلکو دده رعب و لید مګر په عین وخت کښی مشفق او مهربان هم وُ. دده حیات ټول په حرکت کښی تیر شوی معلومیږی چه دده په عنعنه کښی یو درسی او ر

«باقی په دوهم مخ کښی»

## «خبرونه»

په ۲۸/۸/۳۷ تاریخ د نجم العلم
درس په لوی میدان کښې د مدرسې
د منسوبینو لخوا د ملا حضرت خان
د ریاست لاندې یو با جرأته انجمن
جوړ شوی ؤ او په دې مجلس کښې اول
افتتاح ملا محمد اسمعیل د خو آیتونو په
لوستلو وکړه او بیا د غه کسانو د ځو
مره ورځنګه علما؟؟؟) د اقتراح ترعنو
ان لاندې ۱ ملا محمود ۲ ملا احمد الله
۳ ملا فیض محمد ۴ ملا عبد الودود ۵
ملا سلطان عزیز ۶ ملا معراج الدین ۷ ملا
حبیب الرحمن ۸ ملا محمد نعیم د مدرسې
شاګردانو ۹ مولوی شمس الرحمن صاحب
۱۰ مولوی رحمت ګل صاحب د مدرسې مدرسینو
ښې مؤثرې وینا وې وکړې. بیا سعید افغا
نی « د مدرسې مدیر د دوی په وینا وُ
باندې تبصرې په ضمن کښې و ویل که مونږ د غه
خبرې تر ملتفت شو چه څومره ورځنګه علما؟؟!
او په دغه متعلق ښه غور وکړو امید دی چه ز
مونږ د مسئولیت د برداشت دپاره په ښه افکار
په لاس راشي، د هر قوم د ترقي او تعالي دپاره
اول د ځان پېژندل ضروری دی او په دغه ضمن
کښې د خپلو نواقصو اصلاح د نورو په افکار و
مؤثر واقع کېږي. د مجلس په آخر کښې د وطن
د دوامي او ترقي دپاره ټولو په ګډه دعا وکړه
او په دغه لیار کښې د توفیق آرزو ښکاره کړه

## « اعلان »

مونږ غواړو چه د نجم الدین
اخند زاده صاحب ستر مجاهد
د سوانحو په حقله څه ویکو
کرچاته د ده د ژوندانه
د حالاتو او د ده د غزاګانو
او د ده د مازونا نو او مخلصانو
په متعلق موثوق معلومات
وی هیله کوو چه په دغه لیار کښې
مونږ سره معاونت وکړي.

گل محمد بدعافی
دا ترټولو لګی شاګرد

## « تدبیر او مشوره »

د امنلی شوی خبره ده
چه بشر یو اجتماعي ژوند لري او په انفرادي
د ول سره د خپل ژوند احتیاجات نه شي پوره
کولی د اجتماعي ژوند د سرته رسولو دپاره
تدبیر او مشوره پوره کومک او همکاري کوي
کوم کار چه د تدبیر او مشورې په ذریعه
سره کیږي دې کښې شک نشته چه ډېر
مفید او ګټهور ثابتیږي نن کرد دنیا
خلک او په دملا رجوته رسیدلی او د
ژوند د رسانې دپاره ئې راز راز وسائل
برابر کړي دا ټول د تدبیر او مشورې
محصول دی. د اسلام مقدس دین هم د
تدبیر او مشورې په تر ګرد کارونو د نجا
مولود پاره امر کوی. د تدبیر او مشورې
ځنی دېر کار اختسل کیږي په تېره بیا د دنیا
د مهمو واقعاتو د حل او فیصلې دپاره. مګر
د مدبرو او مشاورو خلکو پېژندل هم ضرور
دی مدبر دی باید هغه سړي وي چه د ژ
وند د حالاتو نه خبر د شخصیت پرستۍ او
عنعناتو نه لیرې د اجتماعي افکارو خاوندي وي
صحیح ته بیرته ګرد دیوال کلک تا د او بنسټ
دې کرد دیوال تاداؤ او بنسټ کلک شي په د
دې کښې شک نشته چه دیوال هم کلک راځي
او په نتیجه کښې د ډیر وکلو دپاره دوام کوي
هم ژنګه په هر عمل او هر کار کښې چه صحیح تدبیر
وشي هغه کار سرته رسیدلی او ګټهوری
ستفادې ورځنی لاس ته راځي.

« د لمړي مخ پاتې »
او تیښ او حرکت موجود ؤ چه په یو ځای نشو
پاتې کیدلی ده هر چیرته د خلکو په افکارو کښې
د اسي تحول قایم کړی چه ترننه هم هغه تحول د
خلکو په ما بین کښې یاد او د قدر وړ دی ده په ځان
باندې ډیر خلک د ښو اخلاقو په وجه عاشقان
کړي ؤ د ده د حقانیت د ثبات دپاره دا
کافي ده چه دی ټولو په هو علماؤ منلی ؤ او د ده
حرکات ئې د اسلام د دین په اساس موافق ګڼل
« د لوئی لري »

۴ هر څوک په خپله اندازه مسئولیت
لري. په بای کښې د خدای د ج) ځنې د
خپلو یو هانو دپاره نور موفقیت
هم غواړم.

محبوب الهی «ډلاس»
دا ترټولو لګی شاګرد

## « صبر او حوصله »

صبر او حوصله د هر مرض
دپاره مجرب دوا ده باید په هر کار کښې د صبر
او حوصلې نه کار واخستل شي ځکه چه انسان د
حیات په صحنه کښې د ډېرو سختیو او مشکلاتو
سره مخامخ کیږي نو که په درسي وخت کښې د
صبر او حوصلې نه استفاده ونکړې شي د ژوندانه
ټولې خوږې به ئې په خفګان رونا کامی ملوثې شي
انسان هلته خپل اصلي هدف او مقصد ته رسیدای شي
چه په هر کار کښې د ډېر صبر او حوصلې رومتانت
نه کار واخلي او همیش د غم فکر نه د ځان دپاره
لیار و ګرځوي پس د هغې بیا کیدای شي چه په
ډېره آسانه تو ګه د کارونو دپاره د عمل په
میدان کښې لوړ قدم ونه واخلي نو
لازمه ده چه د محیط د عمومي رفاه او
کارونو د صبر او حوصلې نه کار وی

آسف

## « د النجم پاڼه »

د غه اخبار چه د النجم په سپیڅلي نامه
باندې شهرت موندلی دا د هغه قوي افکارو
محصول دی چه دا په نړیوالې مونږ ته د ذهني
تقویې دپاره مفید او ګټهور واقع شي بلکه دا
په د ټول عالم اسلام بالخصوص بیا د افغان ملت
لپاره کوم چه دا ورته د نجات لیاري جاري دی
و ښیئ او دا ځکه چه دا اخبار د هغه متینو ارا
ده او پاک ضمیر یلو شي دی چه په رښتیا په دول
سره د بشر د سعادت په لیار د ښا وچوی او خلک
خپلو نقیصو ته متوجه کړي هو ده په دې عقید
لرم که دا اخبار تقویه کیږي نو په آینده کښې
به لره ده څخه پوره نتایج په لاس راشي او دا ځکه
چه لوی خوا به د متعلمینو په افکارو کښې صحیح
نهضت پیدا او دبلې خوا به کوم چه د علماؤ قلی
مسئولیت دی پوره ته شي بلې دا هغه پاڼه ده
چه ټولو خلکو ته د اتفاق او ورور ولۍ درس ور
کوي او خلک په دې پوهوي چه په هر
کښې وخت او یو والی ته په یرغمونو پرمحس کیږي
او دا هغه بې غرضه جریده چه په خلکو کښې د
همکارۍ درد پیدا کوي او خلک د اجتماعیت
مزایاؤ پوهوي او دیته خلک ځغروي چه په یو
له کښې باید حسن رقیبا د منځ ته راشي مونږ د اسلام
د پرو مقاماتو نه هیله لرو چه دې اخبار په دې کې
پېژندلو دپاره اجازه وکړي تر څو د خلکو د خیر دپاره
زمینه په لاس راشي د دې اخبار نه قوي امید دی
چه خلک په دې پوه کړي چه د وطن د ترقي لپاره ۴

(c) ketabton.com: The Digital Library


# النجم

روه ورځنی پاڼه

بې درخصتی دورځو هره

چارشنبه نشریږی

چلونکی «سعید افغانی» د نجم المدارس مدیر
مرستیال «حضرت خان» د دوم ټولګی شاګرد
اداره په هډه کښی
پته «ننګرهار نجم المدارس»

«اخبار د مدرسی جریانات بنیی او اجتماعی، دینی، تربیوی خپروی کوی
«رهبر»
د رهبر په متعلق زوره مطالعه په کار ده کوم چه مونږ د رهبر خیال کوو باید مطلب ته موږ سوی

ګڼه (۶) چارشنبه د ۱۳۳۷ کال د قوس (۵) (۱) کال


(۳) «دده هویت قوم او نسب» «سعید افغانی»

اصلی او فرعی مسکن او ځایونه ئی

ملا نجم الدین اخندزاده صاحب. په قوم کاکړ او په ملیت افغان دی په اصل کښی د جنوبی د شلګرد علاقی نه دی او هم هغلته دده نیکونه او پلرونه تیر شوی. دی بیاد تحصیل او زده کړی په وخت کښی د جنوبی نه مخ په مشرقی ننګرهار را روان شوی په ننګرهار کښی ځای په ځای دیره شوی او تحصیل ئی کړی دی د تحصیل د پاره افریدو ته هم تلی پیښور او صوات کښی هم او سیدلی دی ده د تحصیل په وخت کښی هم څه موده هلته کښی تیره کړی ده دی د تحصیل نه وروسته مخ په خپل وطن افغانستان روان شوی او په هډه کښی استقامت اختیار کړی ؤ لکه څنګه چه مونږ و ویلی د ځینو سیاسی معاذیرو په وجه کابل ته غونښتل شوی ؤ د کابل په ښار تندور سازی کښی او سیدلی او بیا د کابل نه مخ په ننګرهار تلی او د مهمند و په علاقه په جرووبی، او چمرکنډ کښی یوه استوګنه کړی ده په ننګرهار کښی په رود او کښی څه موده تیره کړی او هلته په فقیر آباد او نور رود او رو شینو او کښی ګرځیدلی په لغمان او سوررود او کامه او خوګیانو کښی هم د وعظ او تبلیغ او یادونو او مقاصدو په مطلب تلی دی دګرمی په وخت کښی دی به کابل ته هم تلو او هلته به پغمان کښی څه موده ئی استوګنه کړی ده دی په شمالی کښی د کوه دامان خوا ته ددوی د ځو په علاقه کښی او سیدلی او شاید چه هلته به دکوه دامان په ځینو ځایو کښی ګرځیدلی وی مګر دده د حیات اخرنی شپی او ورځی د ننګرهار په علاقه د جلال کوټ نه دری میله مخ په جنوب هډه کښی تیری شوی دی شاید په نورو ځایونو کښی هم ګرځیدلی او یا او سیدلی وی مګر مونږ نه دی اوریدلی نو ځکه د لیکلو جرئت نه کوو

«ددوه تحصیل او علم»

ځکه معلومیږی چه دی د تحصیل د پاره زیات ګرځیدلی او په ډیرو ځایونو کښی او سیدلی دی ده ئی چه اخندزاده صاحب ډیر پوه او بنه معقول عالم شوی ؤ په تفسیر، او حدیث، قرائت، صرف، او نحو، او فقه، او اصول، او معانی، منطق، او هیئت او ریاضی، او حکمت، او میراث، او حساب، او تصوف ... نور لری.

«رهبر» «صدیق الله» ګلکړی د نهم ټولګی

په دی کښی شک نشته چه بې د رهبر نه هیڅ کار نه شی کیدی هو: هر کاروان سالار او روان غواړی او هر کار ته یو پوه صادق لیارښونکی په کار دی مګر څوک رهبر؟ زما عقیده داده چه په دغه متعلق ډیر غور او دقت ضرور دی. هو دا خبره د پام وړ نه ده چه ایا هر سړی د قوم او ملت رهنما کیدای شی؟ ایا هغه مهمه وظیفه چه د رهنما او رهبر په اوګه پرته ده هر سړی ئی اجراء کولی شی او که په خصوصاً په دا سی وخت کښی چه هر سړی نا رې وهی چېړه کله یوه پخه هو ته هم یوه ئی هغه هم یوه دی نه هم لیک او قلم لرم یو یوه رهنما بلل کیږم قوم او ملت ته خدمت کوم د خلکو د پاره د رهنمائی وظیفه اجرا کوم خلک باید زما په خط مشی روان شی او د هم ده چه ډیرو خلکو په سپین لباس او په سپینو جامو کښی خپل ځان د ملا او رهنما په حیث معرفی کړی دی هغه بل برلاسی بکس او عصری جامو کښی ځانونه ډاکتر څه چه ځان د پوهنو نیص نه هم پورته ګڼی لافی شافی او چابکی ئی هم ډیره ده نو خلکو ته او س څه په کار دی د ته په کار دی چه یوه غور او دقت وشی تش د خولی په ویلو رهنما او نزیږ ندلی شی بلکه د عمل په میدان کښی ورته ښه ځیر شی ترڅو چه دهغه په تولو او عاو او طوارو باندی پوه شی او د معلوم کړی هغه عملی رویه د قوم او ټبر سره د هغه ګټه او تاوان د جامعی او د جامعی افرادو ته څرنګه ده؟ د هغه کار او وانی باید د کټل وشی چه دی څه کوی او هدف او نصب العین ئی څه شی دی؟ ځپل باندارتو نګی د پاره موقع ورنکړی شی.

«پاتی په دوهم مخ کښی»

«پوښتنه» «اداره»

مدرسه په څنګه څخګښی لاړه شی؟؟؟ یو مختص او معقول ځواب غواړو.

(۱۰) - ځواب - «هیم کاکړ» زما په فکر د مدرسی د پرمختګ لپاره درسی یو شی ضرور دی چه د مدرسی د علماؤ او د نورو خلکو په افکارو کښی یووالی پیدا کړی او دا کار د یو اخبار یا مجلی په ذریعه تکمیلیږی نو کله چه مدرسی ته ددی دوه شیانو امتیاز ورکړل شی مدرسه به ترقی وکړی.

(۱۱) - ځواب - «فیض محمد دنهم ټولګی شاګرد»

زما په عقیده د مدرسی د ترقی لپاره د ټولو نه مخکښی باید د مدرسی احتیاجات پوره شی نو ددی د پاره د مدرسی اصلی او فرعی احتیاجات سنجول په کار دی.

(۱۲) - ځواب - «حضرت خان» د دوهم ټولګی محصل

دتنه د مدرسی تلو لپاره زما خیال دادی چه د مدرسی د ټولو منسوبینو ترمنځ باید حسن ظن تفوق او کوم داره وداره تا ثرات چه کله ناکله د انسانی نقیصو له مخی ترمنځ ورته کیږی د هغی نه سړی تیر او دتیره له ګرګی ئی د نشت وولی په مرتبه کښی خوهیخ ونه ګرځی او د غه شو خبرو لپاره موقع ور نکړی شی.

« سنجش » عبدالودود « د رفیق »

دمستقره خبره ده چه سنجش په هره خبره او بیا او بیا دیو کار او خدمت په وخت کښی
چه دجامعې د ارتقا دپاره مد نظر شوی وی یو مهم او ضروری امر دی او د ځکه چه لېښ بچیله
په حیاتی چارو کښی د هر وخت دپاره بېلا بېل جدا جدا کارونه لری او په رنگارنگ خبرو سره
مخامخ کیږی دلته باید دی خبری ته مونږ په ملتفت شو او ورته ښه فکر وکړو چه ایا کوم هغه
خبری او وینا چه دخپل سوچ او سنجش د لیاری نه نوی بلکه محض د توتی په څېر غږیدل
وی بی نتیجی ثابتیږی او د اصل مقصد او مرام نه څنګه جدا او کناره لیدل کیږی همدا رنګه که
یو وخت کښی کوم کار او خدمت د پېښ آمد او درو ستی مشکلاتو د حل دپاره د خپلو ځان سره
قوی افکار او سنجیده لیاری نه وی سا تلی نو بیا ده چه داد بلی ورځی دپاره ددی د پس مانی موجب
گرځی او بالآخر د خجالت په لویو کندو او د شرمندگی په صحنه کښی غورځیږی نه باید د اسی و ندی شی
هو کله چه انسان په دنیا کښی دی خبری ته اړ او محتاج دی نو ا رو مرو باید مونږه سره د اسی قوی
غړی و لېږو او وریښی څه وکړو چه ښه پوه
او دانا خلک وی او د موجوده طبقی د تولو حالا
تو نه خبر او په خپل ښه او بیدار زګاه او محکمی او
ورو سته ته بیوره پام لرنه کوی د خپلی وینا د
تا ثیراتو دپاره او د کار ښه نتیجه د خپل ځان
سره ساتی تر دی چه دده او صنائع او حرکات
تا سته او دلاره تګ او دا تګ تول د روز مره
حالاتو سره موافق او برابر وی که د اسی وشی
ژه و یلی شم چه دا به د لېښ د دا می او هوسائی
لویه وسیله او پا نګه وی ولی د وی یو ازځی د خپل
ځان د خیر او بهبود په اندو نه وی بلکه تول د
گړی هم د ننه د ننه په لور ه مده کښی په حقائقو او
رسا ئو پوهوی او ورته د خپل ژوندانه په مختګ
د رسونه ښیی نن په دنیا کښی هغه مملکتونه چه په
خپل مرام کښی کامیاب او وړاندی تللی دا بل څه موجبه
نه ده بلکه محض د هغوی د خپل سنجش او فکر نتیجی
دی چه د لوړی ترقی خاوندان او په لوړه مده
کښی ستر مقام ته ورسیدل .

« اداره »
د اسلام د دین اساس تعلیم او ښودنه د سنجش
دپاره دیوره کفایت اندازه لری که مونږ وکړی
شو چه د خپل اسلام د رهبر ښودنی او رویه د
سنجش په متعلق د نظر لاندی ولرو ارومرو به په
تولو مقاصد و کامیاب او بریالی شو .

« د پېژندنه » — معراج الدین « د جمیلی » — دا تمر تمرګی محصل
پېژندنه د انسانانو په
ما بین کښی په پره اهمیت ورشی دی ځکه چه د پېژندنی
په سبب سره د ازدنا فع لاس ته راځی انسانیت
تقویه کوی او انسانی او روابط محکموی انسان ته خیر او
شر ورښیی دیر که ته پېژندنه سری ته زیاته مفیده
او پېژندنه مهلکا تو او موذیاتو نه ورته نجات
ورکوی تعارف انسان له د ښی صحی صافی روښنائی لا
ری په طرف بلنه کوی دیوڅه پېژندنه او د توجا معلو
مول حقایق روښانوی او هرسړی د ژوندانه په خوند
او مزایاو پوهوی که دیوه مملکت دیوه بل مملکت سره
پېژندنه نه وی نو دغه مملکت به بی ترقی او ددنیا
په صحنه کښی پس او ناکام پاتی وی نو پېژندنه
خاص د ترقی او کامیابی سبب دی .

« اداره »
زمونږ مطلب د پېژندنی د پاره دادی چه خلک
باید و پېژندل شی او د هرچا نه د هغه د ذهنیت
او لیاقت په اندازه کار و اخستل شی د رهم ښه ده
چه باید هرڅه و پېژنو نه چیله

چه ته د دوا په ځا

ی زهر نوش و جان

شی .

« خومره او څنګه علما ؟ » « سید تقی »
گرانو ملګرو غواړم چه څومره او څنګه
علما ؟ د اقتراح په هول لکه چه په
انجمن کښی ځینو وخبره دالنجم په
اخبار کښی هم وځیدل شی مګر ددی
لپاره چه دا اخبار یو مختصر قلمی
اخبار دی غواړی چه مختصر او ستړی
مضامین نشر کړی نو بهتره ده چه
ددغی پوښتنی د ځواب دپاره ښه
سنجیده او مختصر ځواب ولیکل شی
دیر ویل او لیکل چه معنی ونه لری
څه فایده کوی ؟ مونږ غواړو
چه د ملګرو افکار د کښیکاوی
او د پلټنی سره اشنا کړو نو
که دغه مهم مطلب دپاره د
مفاهمی په برکت چیر ته
د اسی حقیقت روښانه او
ومنل شی چه مونږ د ومره
او د اسی علماؤ ته ضرورت
لرو دا به زمونږ سعادت
وی ځکه شاید په دغه
سلسله کښی خلک حقانی
علماؤ خپل خیرخواه او رهبر
و پېژنی . او مقتدا ئی وګرځوی .

« اعلان »
مونږ غواړو چه د نجم الدین
رښند زاده صاحب د سوا نحو په
حقله څه ولیکو که چا ته دده
د ژوندانه د حالاتو اندازه
معلومات او د ده د ژوند حالاتو
او یادونه د مخلصانو په متعلق
ثوق معلومات وی هیله کوو چه
په دغه لیاره کښی مونږ
سره معاونت وکړی .

« د لمړی مخ پاتی »
او کړه نه غرض ئی خپل وطن او قوم ته کار کول دی بیا په دغه نظریه باید د رهنما او لار ښوونکی مقام هغه چاته
ورکړی شی چه هغه حقیقتاً خپل خیر د تولنی په خیر کښی لټوی کار او عمل حس او حرکت ئی ځان او خلکو ته خیر لو ګټه
رسول وی په سپین لباس او مقفی خبرو او یا په بل عبارة په نفس چا بکی بانږی غولیدل د نا پوهو کار بلل کیږی باید
رهنما و پېژنو او په رهبری ئی سره ئی و ینسو .

« اداره »
بی ځایه شکونه هم د رهبر په متعلق غلط دی او د مشکو خلکو نه څه نه پوره کیږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


# النجـم

چلوونکی «سعید افغانی» دنجم المدارس مدیر
مرستیال «      » ددولسم ټولګی شاګرد
اداره په هډه کښی
پته «د ننګرهار نجم المدارس»

اده ورځنی پاڼه
بی د رخصتی دوه ځوهره
چارشنبه نشریږي

«اخبار د مدرسی جریانات بشپی او
اجتماعی، دینی، تربیوی خپروونکی
«مسئول»
هغه خلک مسئول دی چه کار ئی دغه ګټه کیږی
پی او که خلک که دعا هم نه کوی بشه نه کوی

گڼه (۷) چارشنبه د ۱۳۳۷ کال دقوس (۱۲) د (۱) کال


(۴) «دده علم او تحصیل» «سعید افغانی»

په علوموکښی ئی ښه قوی لاس درلوده ښتیا
دده هغه کتابخانی نه چه اوس دنجم المدارس
په لاس کښی ده معلومیږی چه دی ښه عمیق عالم
او د مطالعی شائق و ورئی چه اخند زاده صاحب به
دعلماو سره په علمی بحثو نه کول ده به همیش د
علم دپاره دعمل اندازه کټل دده استاذان هم
خلک ښه یادوی دده د استاذانو په سلسله کښی
د سرشاهی نه چه سړی مخ په پورته ځی یوه هدیره
ده دهغی ځای خلک یو قبر ښئی وائی د اخند
زاده صاحب استاذ تیر شوی او په ښه مبارک
شخص ئی خلک یادوی وائی ملا نجم الدین اخند
زاده صاحب دده زیارت ته راتللو دده
استاذان په ننګرهار او سرحداتو او صوبه
او پیښور او شاید نورو ځایونو کښی هم
تیر شوی وی کوم وخت چه دی دعلم قال نه
مخ په علم حال توجه برابروی دا وخت دده
یوه بل دوره شروع کیږی دا په نورا تر
ثابته ده چه اخندزاده صاحب د صورت صاحب
نه په حیات کښی دقادری شریفی طریقه وکړه
او په دغه طریقه کښی تر ښه درسونه کامل
کړه او دماذونی مرتبې ته ورسید ده په
صورت کښی په وظایف کړی او د صورت
صاحب په نزد نهایت منلی و که څه هم زمونږ مره
دده او د صورت صاحب په هغه وخت کښی
د کرامت زیاتی قیصی شته که ګرمونږ دومره
پوهیږو په دغه دوره چنابان با تقوی
او په دین کښی تیر شوی عقیده لرونکی
بورا دا او وظایفو او په پوره تاثیرات
شته دی مګر نه غواړم چه د قیصو د طبع یادونه
یادکړو وائی ملا نجم الدین اخند زاده
صاحب په خلکو ډیر طریقه کښی ماذون
و مګر ده په خلکو تریو ازی د ټا د دغه طریقی
اجازه ورکوله. نور بیا

«د تحول» «هیم کاکړ»
په ممکناتو کښی د دنهم ټولګی شاګرد
قدرت د تحول او تطور کارخانی راچالانی
دی. آن په آن ممکناتو کښی تغیرات او
تبدلات پیدا کیږی. څوک پیدا که
څوک فنا که. چاته د خلکو او اجتماع د
اصلاح دپاره رنګ رنګ مصلح د ردونه او
فکرونه عطا کا. چاته د بشر د هلاک او فساد
دپاره مهلک او فاسد فکرونه ورکا. په دغه
مفکوروکښی بیا ځینی کامیاب او ځینی ناکام
کا. ځینی د شخصی او یا اجتماعی خدمت دپاره
په ډیرلوړه پایه تر ورسوی. کله همدا بیا
درسی تیټ کړی چه دخاورو سره ئی برابر
کړی. چاته غټ غټ کارونه په غاړه
کړي او چاته واړه واړه. غټو باندی
غټ مسئولیتونه او وړو باندی واړه
مسئولیتونه. په خلکو کښی کله درسی
تحول پیدا شی چه د مایوسیت مرتبې ته
نژدی شی او کله بیا ورو ورو په ترمخ
په لوړیا دران وی او د په پروامید و نو
مرکز شی او درسی نور. خو په هر تعدیر
سره د قدرت او قادریت دغه تحولات
دی چه بشر د ناقص فکر د معلوماتو او د دوی
په دی خبره چه پولوی مقتدر شته دقانع
کولو دپاره چالانی دی. په دغه تولو
تحولاتو کښی که فکروکړاشی د بشر دپاره
یو ننګ تربیت او تعلیم دی چه بشر په
دغه لیاری سره لوړو مدارجو ته رسیږی
تحول د یوی خوا د قدرت خیال پیدا کوی
او د بلی خوا نه دکار کول او عدم مایوسیت
او قوی عزم او ثبات دپاره مهم درس دی
او همدا رنګه که د دغه تحولاتو کښی فکروکړای
شی د بشر دپاره د عبرت یوه لویه مجموعه ده
د پاتی په دوهم مخ کښی»

«پوښتنه» «اداره»
مدرسه به څنګه مخکښی لاړه شی؟؟؟
یو مختصر او معقول ځواب غواړو.

۱۳ - ځواب - عبدالرزاق
«آسف»

مدرسه به هغه وخت مخ په وړاندی
لاړه شی چه د مدرسی ټول افراد
د خپل مسلک په ریښتیا توګه قوی ارزان
شی او ورته بد بینه نشی.

(۱۴) «ځواب» عبدالرحیم
دنهم ټولګی زده
زما په خیال د مدرسی کونکی
د پر مخ تګ دپاره د ضروری ده
چه د مدرسی ټول منسوبین د
مدرسی قوانین او اصول په پوره
شوق او ذوق سره عملی کړی
او هیڅ یو ئی بیګانه او بیتهی
ونه ګڼی تر څو د خلکو په سترګو
کښی ښه او ورته راغب شی.

(۱۵) «ځواب» «سلطان عزیز»
زما په خیال د مدرسی د اتم ټولګی زده
کوونکی
د پرمختګ دپاره د عامی او خاصی
طبقی سره رابطه او د بودیجی
پراخوالی خورا مهم
څیزونه بلل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« تربیه » سید محی الدین
« علوی » د اتمر توکی زده کوونکی
د ځنو وه معلومه
او ځلانده خبره ده چه هیڅ عمل او فعل بې
له تربیې او ښوونې څخه لاس ته نه راځی
ځکه الهی قانون به دی جاری شوی دی چه
همیش ئې د لبشر تربیه د پیغمبرانو په واسطه
سره کړی ده ترڅو بشر د هر راز مشکلاتو
نه مصئون او د صلاح او فلاح سره مخامخ
شی . زموږ هدف او مرام په نوموړی
موضوع کښی دا دی چه تربیه چون امر
ضروری او د واجباتو نه شمیرل کیږی
نو اول فالاول باید تربیه دعصر په مقتضیاتو
کښی پوره دخل او ونډه ولری ځکه
تربیه که دعصر د ایجاباتو سره مخامخ نه
او مقتضا د وی نو د مربی سعیه او کوښښ
بې ځایه مصرف او بالآخر کوم مثمر نتیجه به
لاس ته نه شی راوستلی که موږ ده اسمانی قانون
ته متوجه شو نو الله پاک سره د کمال قدرت
نه دعصر د ایجاباتو پوره مراعات کړی دی
او هر وخت ئې د خلکو د طبیعت سره سم
مجربې نسخې په عمل راوړلی دی کله چه مرض
ډیر سخت شوی او هلته ئې قوی نسخه او کله چه مرض
مخ په ضعف راغلی په هغه مناسب ئې
نسخه به کار راوړلی ده موږ باید دقدرت
د تربیې نه استفاده وکړو قدرت کوم
وخت چه بشر ماشوم ئې هلته مناسب ئې
دوړه وکتوب سره تربیه کړی بیا کله چه
انسان مرتبې د رشد ته ورسیږی نو د
رشد د حالت سره سم تربیه لیدل کیږی
خلاصه دا چه الله پاک دعصر د مقتضی
سره سم او د مرض د قوت او ضعف او د
انسان د طبیعت او حالت سره موافق
نسخې په کار راوړلی نو موږ هم باید په غور
اساس د تربیې ځای وساتو . او دوم بابعد
چه په تربیه کښې اخلاقی جنبی ته پوره
موقع ورکړه شی او ښه اخلاق او بداخلاق
باید وسنجول شی چه ښه اخلاق کوم او
نابوده اخلاق کوم دی زما په عقیده ښه
اخلاق هغه دی چه د شریعت د پاکی ځای کی

۳
او بد د بد چوکاټ به نه وی ځکه په
شریعت کښی د الله (ج) او د رسول (ص)
ګټور ارشادات شته او دی کښی
شک نشته چه کوم اخلاق چه په څه
اداره جاده او مستقیم چوکاټ کښی
داخل او برابر وی هغه د خلکو په ګټه
تمامیږی که بشر دقت وکړی بی د تعصب
نه هر څه به [illegible]
او دریم درجه د تربیې په پاک او
سپیځلی صحنه کښی مدار د عملی او فعلی
تقوی نظریاتو په کار او چول شی او
تقوی هم باید وپیژنو تقوی ځان ساتل
دی د ناوړه اعمالو او خویونو څخه او
تثبت کول دی په حمیده خویونو او اعمالو
باندی [illegible] انسان باید د عقل د [illegible]
نه درس واخلی ترڅو ښه او بد خویونه
او عملونه ورته څرګند شی او په دی پوه
شی چه کوم د عمل او کوم د ترک ور دی
د دهم د حق سبحانه په فیصل کلام ښه روښانه
شوی دی . وما اتاکم الرسول فخذوه
وما نهاکم عنه فانتهوا =

« دلمړی مخ پاتې »
غنی د فقیر نه او روغ د ناروغ نه
او بالعکس او شل او ګوډ او ړند و نه په
د صحیح خلکو او بالعکس او غټ و مسئو
لیتونو والا د واړه مسئولیتونو والا د
څخه [illegible] نو د چه په دغه ژوند تحول
سره دیوی خوا نه عاطفه او صله رحمی
پیدا کیږی او د بلی خوا نه د هر بدبختۍ ځای
فکر کیدلو تاثیر پیدا کوی په دغه موضوع
کښی که هر څومره کتابونه ولیکل شی بریدی
لکن دا هم باید وویل شی چه که هر څوک
مسلمان او غیر مسلمان چه د عبرت په
سترګه د غه ټولو کائناتو ته او د دوی
تحول او تطور تغیر او تبدل ته په
عمیق نظر سره وګوری نو حتمی به ووایی
چه ربنا ما خلقت هذا
باطلا سبحانک فقنا عذاب النار

(۱) « اقتراح » « سلطان عزیز »
د اتمر توکی زده کوونکی
د موضوع دوه جز لرده
غواړم چه په دواړو د اجزاوو باندی څه ناڅه
رڼا واچوم د لمړی جز په متعلق چه څنګه علما
دی وایم د رسی علما چه د اسلام او د وطن د ارتفاع او ارتقا
په مقابل د شخصی اغراضو نه تیر او همیشه
د احقاق د ماهو الحق او ابطال د ماهو الباطل
په هڅه کښی زیار وباسی . د رسی علما چه د حق په
مقابل کښی د ضرورت په وخت کی تل [illegible]
وغواړی د خپل سر او مال څخه لاس اخلی . د رسی
علما چه د خلکو په زړونو کښی ځای لری او په
صداقت او امانت موصوف د عامی خیر خواهی
پلوی او طرفداری کوی . د رسی علما چه د اسلام
د ترقی د پاره ځان هر ډول تکلیف ته وړ کولی شی
د اسی علما چه پوره حوصله او صبر خاوندان
د پخوانیو علماوو د کارنامو څخه د خپل اطمینان
کار اخلی . د رسی علما چه د فصاحت او بلاغت
مراعات کوی د عامی او خاصی طبقی په زړو به
پوره [illegible]
رفتار کوی . د رسی علما چه نوره ته د ښو بیان
بنسی او په خپله ئې هم عملی کوی . محض غوږ بدل
او نه کول د لوی ندامت او غټ عذاب موجب
ګنی . د رسی علما چه په ژبه او لاس او پښو
بلکه په ټولو اندامو باندی د نړۍ د کومی
[illegible] په صداقت او ښیتنی سره خدمت کول [illegible]
مسئو او پیغور نه بولی . د رسی علما چه [illegible]
[illegible] د تحریر او تقریر په ثمره با رد محیط په ټولو
اوضاع ولوه او باخبر وی . د رسی علما [illegible]
خیر د جامعی په خیر کښی وینی او خپله ترقی
د جامعی د لوړتیا په لمن کښی لټوی .
د څومره علماوو د پاره زما ضیا ل د دی چه [illegible]
دیو شخص د یاسینو [illegible]
ځای ته [illegible] مشکل دی . [illegible]
[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library


# النجم

ده ورځنۍ پاڼه

چلونکی «سعید افغانی» د نجم المدارس مدیر
مرستیال «محمد حضرت خان» د دولسم ټولګي شاګرد
اداره په هډه کښي
پته «ننګرهار نجم المدارس»

بې درخصتی د ورځو هره
چارشنبه نشریږي

د اخبار د مدرسي جريانات بښيي او
اجتماعي، ديني، تربيوي، خبروني کوي

«امید و نه» «سعید افغاني»
دا ننګی کیږي چه اول امید و نه دی پوره شی
دوم د ده چه ښه نيت او معقول جهاد په کار دی

ګڼه (۸) چارشنبه د ۱۳۳۷ کال د قوس (۱۹) (۱) کال


(۵) «دده تحصیل او علم او تصوف» «سعید افغاني»

هغه ی صاحب عالم و مګر داسی عالم نه چه علم ئی د عمل سره نه برابر یږي او یا د سړی تنبه تو ب نه بوئی کار اخستلو
او یا د کبر او غرور نه ډک عالم او یا د چه دده علم د روهامو او خرافا تو یوه مجموعه و او یا خدای ناکرده
چه ده به دین د دنیا د پاره وسیله ګرځولی وی دی یو حقانی عالم و ده د اسلام دین پیژندلو دی په
دی خبره پوهیده چه خلکو کښی باید د محبت او مودت اساس قایم شی دی د یا کار صوفی نه و او ندد کنج
او صومعی طرفدار و دی یو اجتماعی شخصیت و ده همیش دنا وړه رسم او رواج سره مجادله کړی خلک
ئی د بی کاری او تنبلی نه خلاصول.

«مصلح او مجاهد» «سعید افغانی»

دوئ نجم الدین اخند زاده صاحب به د علماؤ سره زیات محبت کولو او ښه عالم به ئی زیات خوښوی د هغه
وخت علماؤ به ده باندی د علمیت امتحانونه کړی و علماؤ دده نه په لوی لوی کتابو او علومو کښی بار بار
باریک مسائل کښی پوښتنی کړی مګر ده سره د علمیت اندازه قوی وه د علماؤ د پوښتنو د پاره ئی ښه ځوابونه
ورکړي دی د علماؤ په نزد ښه جید عالم ثابت شوی و نو ځکه ئی دی د دین د اقتدا او د دین د حمائی د پاره
هغه عصر لوی نابغه شخصیت لیدلو ده علماؤ ته پیر کول او علما و ته ئی د عمل درس ورکولو وائی نجم الدین
اخند زاده صاحب به طالبانو ته هر کال په سلهاؤ په ستنی جوړولی او د بخشش په ډول به ئی ورکولی ده
د علماؤ د پاره خولی او پګړئ پیدا کولی او د بخشش په قسم به ئی ورکولی د نجم الدین اخند زاده صاحب
علمی بحثونه علمی موعظی او خطابی ښی با تاثیره یادیږی ده خلکو ته د کونج او زاویې درس نه دی ورکړی
ده خلکو ته د دنیا په داشان بده نه ده ظاهره کړی چه خلک دی دنیا ترک او کار دی نه کوی دی په دی
خبره پوهیده چه د دنیا مذمت هم د دی د پاره دی چه باید مسلمان د دنیا د محبت اندازه وپیژنی د داسی
چه د دنیا د محبت په وجه د خلکو حقوق تلف د رحم او عاطفی خیال و نه ساتی د داسی دنیا نه چه هرج
مرج پیدا شی د جنګ او قتل او قتال موجب وګرځی او داسی نه چه خلک په دنیا غره شی خپل خالق
هیر کړی او د بلی ورځی غمه ورسره نه وی او کنه دنیا د دی د پاره چه د ځان او د خلکو د خدمت او رفاهیت
په مقصد وی بده نه بلکه پیدا کول ئی ثواب دی. نجم الدین اخند زاده صاحب حقیقی عالم و په دی
خبره ښه پوهیده چه څنګه علماؤ ؟ ؟ ؟ دی په دی پوه و چه د خلکو د اصلاح د پاره څنګه علم په کار دی نه شو
د ملا حظه وه چه د وخت او زمان مراعات شته دی ده علماء په ځان را ټول کړل خلکو کښی نوی روح پو کړ و چه د خلکو افکار او نظریات
مګر په تاسف دی چه ده د کار نقشه دده نه پاتی وروستنو خلکو بدله کړه په دی پوه نه شول چه اصلی
سرچشمه وی په دی ښه پوه نه شول چه د نجم الدین اخند زاده صاحب مطلب څه و چا د خیال و کړه چه د اخند
زاده صاحب سره د تسبو د شمار خیال و خوک په دی عقیده لاړل چه ډوډی ورکول او لنګر مقصود دی چا دا
خیال وکړ چه ... سیل خدا د دعا او قبا په کار ده چا سره د امود پیدا شوه چه څه د ساده خلکو په وسیله
... په کار دی ... او چه ده چه چا د لنګر په نامه او چا د مسجد د جوړولو په هنګامه
... چاپیر دی تا مرچه د قوم او داسی داسی خیال می دی نارو ناروا
... اسلام باندی هم ... کړل خدای خبر چه داسی جنا ...
... د پاک خدای په لوی دربار کښی ...
... زاده صاحب په مخلصانو کښی ښه پاکی او پوه خلک هم
...
... اندازه ... امید دی چه د ... کار نامو ته ...
... په ډول ... دی کی ...

«پوښتنه» «اداره»

مدرسه به څنګه مخکښی لاړه
شی ؟ ؟ ؟ یو مختصر او
معقول ځواب غواړو.

(۱۶) - ځواب - محمود دولسم ټولګی محصل

زمایه ګمان د مدرسي
د پرمخ تګ قوی
عامل همدا دی چه د سږنی
تعلیمی کال د پاره چه د «سعید
افغانی» له خوا کومه نقشه
سنجول شوی د مدرسی د
لوړتیا د پاره هغه شروع
تر کومی اندازی چه شوی وی
ښه او د لوړو د پاره د مدرسی
خیال قوی اسباب پیدا چه
کړو شی په سږنی کال کښی
د هغه مطلب ته رسیږ شی.

۱۷ - ځواب - شاه ځان دیوولسم ټولګی نه کوچنی

مدرسه به هله
مخکښی لاړه شی چه
د مدرسی منسوبین
هسی افکار او نظریات ولری
چه د خلکو افکار او نظریات
خانو ته جلب او متوجه کړی
یعنی اجتماعی حس ولری.

۱۸ - ځواب - ګل محمد خان دالم ټولګی

د مدرسی د ترقی د پاره
صحیح طلاب رو زل ...
او په کار دا چول ...
ص ... و ...
دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## « خبرونه »

د نایب الحکومه مرستیال ښاغلی محمد ظریف پر دوسي حال کښی چه د مرافعی قاضی، اداری مدیر، د نجم المدارس مدرسی ښوونکی شاګردان، او دهلوی ځینی سپین ږیری او خلک حاضر وو په هغه کښی د نجم المدارس د مدرسی د نوی عمارة د تادو ټیږه ئی کینبوده له د نایب الحکومه ښاغلی مرستیال او د مرافعی قاضی په خپلو بیانو کښی د اسلامی علوم و د مدرسو د انکشاف او په باب د حکومت پاملرنه څرګنده کړه مولانا سعید [illegible] د مدرسی مدیر د حکومت د علاقه مندی نه چه د دینی مدارسو سره ئی لری د حاضرینو له خوا نه رضائیت ښکاره کړه او وی ویل چه موږ غواړو چه د دی مدرسی د شاګردانو د روزنی په واسطه اسلامی شریعت قوی وساتو

۴ لاس پر صدقی سره ئی چپ او د چپ لاس په صدقی سره ئی ښی لاس خبردار نه شی ترڅو ریا ته مفقی نشی چه پټ شریک بلل کیږی. اووم هغه څوک دی چه الله پاک په یوځانه ځای کښی یاد کړی او سترګی ئی اوښکی توی کړی یعنی دی د خپل خدای (ج) د عدم اطاعت څخه په ژړا او هیښ تری پر خوف او ترس کښی دی او وائی چه آینده به بد کار نه کوم. د خپل عمل د اصلاح د پاره د مخکښی شیانو مراعات زیات ضروری دی ځکه چه ولښتو مثل دی چه خپل عمل د لاری مل دی حقیقت دا دی چه ښه عمل د ځان توښه ده او د [illegible] تول سعادت ور [illegible] لی دی.

من الله [illegible]

## « پند نامه موعظه »

« د نبوی حدیث د ترجمی څخه »

محمد عمر دیوبندم توکی محصل

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمائی اووه کسه دی چه پر هغه سخته ورځ د جزا کښی پر د خدای د رحمت د سوری لاندی به ارام وی چه بی ده د رحم څخه د راحتیا او راحت بله کومه وسیله نه پیدا کیږی اول عادل پادشاه دی چه د خپل سلطنت پر وخت کښی مخرب کسان د طبعی او ذاتی وظایفو څخه منع کړی او در شوت اونو رو ناوړو او ناجائزو کارو نو ئی مخ نیوی کړی وی او ده په وخت کښی د حقانیت او عدالت او از وند پورته او د مظلومانو د خولی آه وا ورید او ورته ئی مروی او د هر چا د منزلت په اندازه قدر او مراعات کاوه شی. دوهم هغه ځوان دی چه د الله پاک په عبادت کښی پورته او خپل د ځوانی عمر ئی د خدای (ج) په مینه او محبت کښی تیر کړی وی ځکه چه پر دا هم د جوش او حرارت وخت کښی د خدای اطاعت او د ګناهو نو څخه ځان ژغورل او د نفس اداره کول د پیغمبرانو خوئی دی یوسا لک ویلی دی

در جوانی توبه کردن شیوهٔ پیغمبریست +
وقت پیری ګرګ ظالم میشود پرهیزګار. دریم

هغه څوک دی چه زړه ئی د مسجد پوری تړلی یعنی دی جسماً که هر ځای کښی مګر زړه ئی د خدای پاک د عبادت ځائی سره مربوط او پر دی الله کښی وی چه کله بیر د لمانځه وخت راشی چه ور ئی تر لاسه شم. څلورم هغه دوه سړی چه دوستی او دښمنی محض د خدای پاک د رضا د پاره کوی یعنی پر دی نیت چه څه د اېر دا ستا دوست دی ځکه زه دوستی ورسره کوم او یا دا ستا دښمن دی ځکه زه دښمنی ورسره کوم. پر دی کښی شک نشته کوم دوستی چه د خدای د پاره وی هغه پیره خونده او مزه ناکه او دوام داره وی او هغه دوستی چه د کوم دنیوی مقصد پر غرض وی بی نتیجه او لنډه ورقع کیږی. پنځم هغه سړی دی چه د [illegible] غواړی ده ته یوه ښځه چه ښائسته [illegible] او خائینت وی او دی ئی چه زه د [illegible] د الله پاک نه یعنی د نفس خواهش او ښه [illegible] بلنه قبوله نکړی. شپږم هغه څوک دی [illegible] خیرات کوی په خفیه طور سره [illegible]

## « اقتراح »

(۲) « حبیب الرحمن »

د شپږم ټولګی زده کوونکی

زما په خیال د غه موضوع پیره اهم او ددی د څیړنی په شاؤ خوا کښی زما مخکښی زمونږ نورو ملګرو ښه بیانات ورکړل زه هم د محض اشتراک لپاره غواړم چه په دی متعلق کښی څه ناڅه د علماؤ کم او کیف بیان کړم زما په قاصر فکر سره د ځنګه علماؤ خواب دا دی چه علماء اول باید خپل ځان اصلاح کړی او بیا د نورو د خیر او بهبود د پاره کار وکړی او د ځکه چه دوی ته وارثه د پیغمبرانو ویل شوی دی او پیغمبرانو هر یو په خپل حیات کښی لمړی خپل ځان په تقوی موصوف کړی او بیا ئی د نو د لښکر د پاره د خیر او د بهبود لاری سنجولی دی همیشه ګږ د پر تکلیف هم ورته رسیدلی سره د هغی هم امر بالمعروف او نهی عن المنکر ئی کړی دی نو څرنګه چه علما د هغو قایم مقام دی نو دوی ته هم د پا ید دی چه د هغو وظیفه ترسره او نجاآکړی ترڅو په دوی باندی په حقه سره د هغوی د وراثت کله صادقه شی دا خو یوه مهمه وظیفه ده چه دوی ته ترغاړی شوی نو دوی به هله په دی وظیفه موفق او کامیاب شی چه دوی په هغه برګزیده کیفیاتو او حسنه اخلاقو مکیف او موصوف شی چه سم د قانون سماوی پر لار شوی وی او د ارشاد د نو باندی اول په خپله عمل او بیا ئی نورو خلکو ته تلقین کړی ځکه خدای ناخوښه کړی عالم لر مقتضی دی قانون نه پر بله لار روان وی هغه نشی کولی چه دا وظیفه سرته ورسوی او د ځکه چه د غه دوب خپل حیران او د هلاکت پر کنده کښی پرورت دی نو بل به څنګه د احیک کړی د هغه علماؤ پر حقله چه خپل ځان نه اصلاح کوی او بل ته وائی الله پاک فرمائی کبر مقتاً عند الله ان تقولوا ما لا تفعلون یعنی پر نزد د الله پاک د [illegible] [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په قاهرې کې د أفغانستان سفارت له خوا چاپ شوي کتابونه

## 1393هـ1396 لمبزديز - لمريز 2014م 2017 زيږديز

1- سيد جمال الدين افغاني او د افغانستان نوميالي
2-أثر الإسلام فى العلوم و الفنون
3- دژ الموت
4- تعصب ويرانگر تمدن ها
5- نظرة عابرة إلى لغة البشتو
6- عربى عاميانه در حوالى بلخ ( نخستين تحقيق)
7- العلاقات الأفغانية المصرية فى مرآة الوثائق و الصور
8- تاثير اسلام بر فلسفه و هنر
9- راز و نياز( المناجاة)
10- ملک شعراء أفغانستان؛ قارى عبد الله خان
11- صرخة عبر القرون و سبع قصص أخرى
12- الرد على الدهريين
13- کابل در پرده هاى تاريخ
14- بررسى فرايند نوستالژى در شعر استاد خليلى
15- لندى
16- آرامگاه بابر
17- ماهية المنظمات الدولية غير الحكومية
18- العلامة صلاح الدين السلجوقى ( آراء و أفكار)
19- خوشنويسان
20- أفغانستان بين قرنين
21- سيد جمال الدين افغانى و نخبگان افغانستان
22- استراتيجيات المنظمات الدولية
23- افغانستان و اللغة العربية عبر العصور
24- د دين څو ستورى
25- د ادب څو ستورى
26- تنديسى بر چکاد آزادى
27- افراط در دين و زندگى
28- دور المنظمات فى حماية حقوق الإنسان
29- پښتو څنگه وروزو ؟
30- عديم شغنانى
31- ابن بطوطة فى افغانستان
32- الفقهاء اللمغانيون فى بغداد
33-علامه سلجوقى نويسندهء مقتدر و عاليمقام
34- المياه الافتراضية
35- العوامل المؤثرة فى عملية صنع القرارات
36- عاهلان و شعبان
37- گازرگاه مدفن پير هرات

(c) ketabton.com: The Digital Library

38- د شرق نابغه
39- حکایات و روایات
40- در مورد رساله‌ء نیچریه
41- سیرة النبی صلی الله علیه وسلم
42- تجلی الله فی الآفاق والأنفس
43- د اپین واټ
44- محمود طرزی رائد الصحافة الأفغانیة
45- دوازده جستار
46- د افغانستان د خلکو دجهاد ادبیات
47- کتابشناسی محمود طرزی
48- یادی از شهید مولانا عبید الله صافی
49- نقش محمود طرزی
50- آیین اختلاف در اسلام
51- دیباچه ها
52- خاورمیانه بعد از بهار عربی
53- متن اصلی رساله‌ء« نیچریه»
54- مولانا منصور انصاری
55- افکار شاعر
56 - احوال و آثار استاد عبد الحی حبیبی
57- یادداشت ها در تاریخ صنایع افغانستان
58- دوی تلپاتی ځیری
59 – شاعر أفغانستان المعاصر ؛ الأستاذ خلیل الله خلیلی
60 – حقوق اساسی ، اداری و بین المللی در اسلام
61- از بلخ تا قونیه
62- افغانستان په نولسمې پېړۍ کې
63- افغان، افغانستان او اقبال
64- کلتور پوهنه
65- ترجمه‌ء معانی و تفسیرسوره‌ء کهف
66- السلاطین الغزنویون
67- معاهدة المودة و الصداقة
68- نیچریه د سید جمال الدین افغانی لومړنۍ چاپ شوی رساله
69- تجدید الفکر الدینی بین جمال الدین و إقبال
70- سده‌ء سید در روزنه‌ء سراج الأخبار
71- جاده‌ء افیون
72- پنج خطابه
73- آواز
74- حقوق زن در اسلام و غرب
75- رد المسح علی الجوربین .
76- مقالات الندوة العلمیة (مصریة فی بلاد الأفغان)
77- عبقریان او نوری قصی

(c) ketabton.com: The Digital Library

78- کابلیان و کابلستان
79- منتخب شعرونه
80- خاطرات ظفر حسن ایبک
81- فرمانروایان افغانستان
82- وقایع مهم افغانستان
83- شفیق له امامت نه تر صدارته
84- شفیق از ولادت تا شهادت
85- محمد موسی شفیق کتابات ، حوارات و خطابات
86- کویت؛ کشور کوچک با امکانات بزرگ
87- په پښتو ادب کې نوی شعر
**88**- محمد صلی الله علیه وسلم لوی پیغمبر
**89**- بگرام
**90**- بیدارگر عصر
**91**- نیچریه
92- دپروفیسور خدمتګار د چاپي آثارو لنډه پیژندنه
93- تأثیر فکر الأفغانی فی فلسفة إقبال
94- موسم هجرت سوی شمال
95- از قاهره به کابل
96- سرحد او افغانستان
**97**- گزیده هایی از سروده های جمشید شعله
98- روسي ادبي ستوري
99- رشوت
100- الإنجازات الثقافية
101- دیباچه های دیگر
102- د کرکې او کینې دیانت
103- نفی خشونت در فرهنگ اسلامی
104- مولانا منصور انصاری
105- دراسة موجزة عن العالم الدكتو رمحمد عمارة
106- حقوق بشر در شریعت اسلامی
107- اکبر نامه
108- الطرق الصوفية فی أفغانستان
109- التحول الديموقراطی و المشاركة السياسية للمرأة
110- نه به تعصب
111- تعصب د تمدنونو ورانوکی
112- السياسة الخارجية الأفغانية تجاه العالم العربی
113- د عربې نړۍ په وړاندې د افغانستان بهرنی سیاست
114- سیاست خارجی افغانستان در قبال جهان عرب

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**